# د افغانستان
# د څیړنو خبرپاڼه

اتلسمه ګڼه، ١٣٨٧ کال زمری/وږي

٢ د دغې ادارې له نوي رئیسې، ډاکتر پاولا کانتور، سره مرکه
٤ څیړه: د پښتو ژبې په اړوند څیړونو باندې د ډاکتر عبدلجمیل الکوزي لیکنه
٧ څیړنیز خبرونه
٨ د دغې ادارې اوسنۍ څیړنې
١٠ ددغې ادارې نوې خپرونې
١١ نوې خپرونې او سرچینې
لنډې او عمومي خپرونې
کرنه
اقتصادي پرمختګ او مالي چارې
١٣ بهرنۍ اړیکې
سیاست او حکومتداري
١٤ روغتیا
١٥ قانون، عدالت او قانوني سیستم
نخشې
کډوالي
١٦ د طبیعي سرچینو مدیریت
تریاک
١٧ امنیت
٢٠ اوبه
ښځې
د هیواد د وګړو اټکل
٢١ احصایوي غوره شاخصونه
٢٢ د هیواد د وګړو نوې شوې اټکل

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
*د څیړنې له لارې د افغانانو ژوند ښه کول*
AREU

# د دغې ادارې له نوې رئیسې، ډاکتر پاولا کانتور، سره مرکه

مرکه کوونکی کرس بَست

ډاکتر پاولا کانتور په دې وروستیو کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د رئیسې په توګه خپله دنده پیل کړه. نوموړې مخکې له دې د ۲۰۰۵ کال له دسمبر څخه د ۲۰۰۷ کال تر سپتمبر پورې په دغه اداره کې د معیشتونو او جندر د څېړنې د لوړ رتبه مدیرې په توګه کار کاوه. په دغه اداره کې د خپل د کار په اوږدو کې نوموړې تر دغو عنوانونو لاندې د څېړنو مدیریت کړې دی: فراملتي معیشتونه او شبکې، د افغانانو د دوهم نسل د مهاجرت او راستنیدو تجربې، په کلیواله معیشت کې رسمي او غیر رسمي پورونه، د ښاري معیشت ستراتیژي، کارګر ماشومان، کورنۍ ډاینامیزم او تاوتریخوالی، او ټولنیز عدلي سیستمونه.

ډاکتر کانتور له خپلې وروستۍ دندې څخه چې د (برتانیې) شرقي انګلیا پوهنتون د پرمختګونو د مطالعې په مکتب کې د ټولنیز پرمختګ ښوونکې وه، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې ته راستنه شوه؛ نوموړې همدارنګه د امریکې په ویسکانسن میدیسن پوهنتون کې ښوونه کړې ده. د هغې د زده کړې سابقه، د اقتصاد لیسانس، په جندر او پرمختګ کې ماسټري او په ښاري پلان جوړونه کې دوکتورا ده، او تخصص یې په جندر او نړیوال اقتصادي پرمختګ کې کړې دی. مخکې له دې چې هغه په افغانستان کې کار وکړي، نوموړې په شمالي هند کې د جندر او غیر رسمي دندو، او همدارنګه په ښاري بېوزلۍ او زیان منونې باندې څېړنې ترسره کړې دي.

*افغانستان سره مو څنګه مینه پیدا کړه؟*

زما مینه دوه اړخه لري، هم له افغانستان سره د یو هیواد په توګه او همدارنګه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې سره د یوې موسسې په توګه مخکې له دې په ۲۰۰۵ کال کې دغه ادارې ته راشم، څه نا څه لس کاله مې په علمي برخو کې کار کاوه (هم خپله زده کړه کې او هم په مسلکي ژوندانه کې)، په دې دوران کې مې په هند کې څېړنه ترسره کړه او د جنوبي آسیا په هکله مې یو ډول تخصص تر لاسه کړ. په هند کې مې د خپل تر سره کړي کار څخه خوند واخیست، او داسې احساس مې لاره چې د مینې وړ او غوره کار ؤ، خو کله نا کله به مې دا فکر کاوه چې تاثیرات به یې څه وي کله مې چې دا فکرونه په سر کې وو، همدارنګه مې له رسنیو څخه د افغانستان په هکله اوریدل، او له دغه هیواد سره مې مینه پیدا کړه، په ځانګړې توګه د دې لپاره چې له هند څخه یې توپیرونه لرل یو توپیر چې ما ته ډیر د مینې وړ ؤ هغه دا دی چې په تاریخ کې دغه هیواد هیڅکله استعمار نه ؤ. همدارنګه په افغانستان کې د جندر مسایلو زما مینه جلب کړه، ځکه چې د جندر اړیکې زما د مطالعې مرکزي برخه وه چې زه یې سهیلي آسیایي سیمې ته وهڅولم، همدارنګه د شرایطو پیچلتیا، د جنګ څخه وروسته شرایطو کې د دغه هیواد له بیارغونې څخه د پرمختګ په لوری حرکت ټولو دغو څیزونو زه افغانستان ته راوڅکولم خو لکه مې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری په هکله خبرتیا تر لاسه کړه نو افغانستان زما په فکر کې داسې یو ځای ؤ چیری چې ما کولای شول د خپلو مهارتونو په واسطه د پرمختګ په بهیر کې مرسته وکړم، په داسې یو ځای کې چې له هند څخه توپیر لري زه یوه څېړونکې یم، او زما احساس دا دی چې دغه زما اصلي دنده ده د داسې یو ځای پیدا کول چې یوه افغاني موسسه وي او تمرکز یې څېړنه ده او پروګرامونو او پالیسیو ته د دغو څېړنو په کارولو کې زیاته ژمنتیا ښکاروي، زما لپاره د لارې څراغ شو او زه یې دغه هیواد ته راوهڅولم

مخکې له دې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ته راشې، تاسو د خپل مسلک ځانګړې سرته رسونې څه بولې؟

زما لپاره یو ستر فرست لومړۍ یوازنۍ مالي مرسته وه چې د فورد له بنیاد څخه مې تر لاسه کړه، چې زه یې په پالیسیو باندې متمرکزو څېړنو سره علاقمنده کړم. ما په هند کې د هندوستان د اکسفام وجهي صندوق سره په تړاو کې څېړنه تر سره کوله. دغه څېړنه د ښاري بېوزلۍ او زیانمننې په هکله وه، او کوم شي چې زما مینه له دغه څېړنې سره را پاروله داسې یو ډلې سره کار ؤ چې په رښتیا یې هیله لرله چې دغه څېړنې ته وده ورکړي او په خپل پروګرام جوړونه کې ترې کار واخلي. د دغه جایزې تر لاسه کول زما لپاره ډیره معنا درلودله ځکه چې له زده کړې څخه عمل او پالیسۍ ته د اړیکې لپاره د پله په شان یو چانس ؤ.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې له اداری سره د کار په دوران کې تر اوسه پورې ستاسو تر ټولو په زړه پورې تجربې څه دي؟

په دغه اداره کې زما د کار په اوږدو کې، ما د دغه اداری له ډله ییزه همکاریو څخه ډیر خوند اخستی دی، دغه شان همکاري هم د دغه اداری او هم د هغه د کار کوونکو ظرفیت لوړوي. زما په باور دغه دوه اړخیزه زده کړه چې د کارکوونکو تر منځ تر سره کیږي ډیره غوره ده. همدارنګه له هغو لږو فرصتونو مې چې له کابل څخه د بهر تګ لپاره لرل، له هغو مې خوند اخستی دی، په ځانګړې توګه په ډیر نږدې وخت کې مې چې سرپل ته د ساحوي کار تجربه لرله. دغو ساحوي کارونو کې مې هغه څه ولیدل چې له کابل څخه توپیر لري، او په نتیجه کې یې له عملي ساحوي کار سره زما مینه زیاته کړه.

تاسو څه فکر کوئ چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری د دوو څېړنیزو پروګرامونو رهبري تاسو د دغه اداری د رئیسې په توګه د کار کولو لپاره څه ډول چمتو کړې یې؟

د دوو کلونو په شاه و خوا کې د معیشتونو او جندر څیړنیزه پروګرام د څیړنې لوړ رتبه مدیره پاتې شوم، او د دغې مودی کار د دغې اداری د رئیسې په توګه زما دنده ډیره آګاه کوی. له یوی خوا زما تیری تجربی راسره مرسته کړی چې د دغه اداری شرایطو لاندی لا ښه پوه شم، او د دغه مهمه ده: زه داسی یو څوک نه یم چې تازه افغانستان ته راغلی وی او دغه هیواد نه پیژني. او بله مرسته هم داده چې زه دغه اداره تر زیاته حده پیژنم. زه دغه موسسه او د هغې فعالیت پیژنم ځکه چې دغه اداره مې د یو څیړونکې له لید لوری څخه لیدلې ده. د څیړنې د تر سره کیدو، د مالی او اداری څانګې سره د څیړنیزې څانګې د اړیکو د څرنګوالی او د اړیکو او مدافعې له څانګې سره د اړیکو د څرنګوالی په هکله خپل ځانې لیدلوری لرم، ځکه خو فکر کووم چې زه د دغې اداری او د هغه د کار په هکله بې ساری پوهه لرم. همدارنګه زما تجربه له ما سره د یوې څیړونکې په توګه مرسته کوی چې په افغانستان کې د بیلابیلو ډلو اړتیاوو او ګټو باندی پوه شم او له دی څخه معنا ده چې له هغو مرستندوی برخه والو سره چې د دغې اداری له کار سره مینه لری له هغو سره می د اړیکو د رامنځته کولو وخت درلود: د رئیسې په توګه به زه وشم کولای چې د هغوی سره د اړیکو او په دغه اداه کې د خپلی پخوانې تجربی پر بنسټ کار وکړم.

د افغانستان او په بین المللی ټولنو کې د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری رول څنګه څرګندوی؟

د غه اداره د هغو کارونو په ملاتړ کې چې اوسمهال په افغانستان (په افغانی ټولنه، په حکومت او ملکې ټولنه، او همدارنګه د بسپنه ورکوونکې په ټولنه) کې تر سره کیږی مهم رول لرې، ځکه چې دغه اداره یو خپلواک غړ دی چې د لوړ کیفیت او ټینګه څیړنه تولیدوی چې پالیسی جوړونه، د بسپنه ورکوونکو پروګرامونه او د ناحکومتې سازمانونو روان کارونه اګاه کوی. د دغه اداری تر تولو یو مهم رول د خپلواکی ساتل دی، دغه نوم چې موږ د یوی منتقدی او باور وړ موسسی په توګه تر لاسه کړی د دی ساتل، همدارنګه د خپل څیړنې د کیفیت ساتل دی. زه فکر کووم چې په دوامداره توګه ټولنې ته خپل د اړیکو پراخول غوره کار دی، تر څو ډاډ تر لاسه کړو چې زموږ کار پر ځای دی او سمه ګټه تری اخستل کیږی.

تاسو څه ډول غواړی چې دغه اداره خپل پوهاوی خپلو ټولو حضارو ته وغځوی؟

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری د کار اساسي لید د کیفیت لرونکې څیړنې تولید او محصول دی. د دغه کار بل اړخ له بیلا بیلو ذیصلاح اړخونو او برخه والو سره، له افغانستان څخه بهر نړیوالو ټولنو سره، په هیواد کې د بسپنه ورکوونکو له ټولنې او د افغانستان حکومت سره د اړیکو ټینګوالی دی. زموږ د دندی یوه مرکزي برخه د دغو اړیکو ټینګوالی دی او هغو خلکو ته چې زموږ کار ته اړتیا لري د خپلو کارونو رسول دي. موږ کولای شو دغه کاري اړیکې د خپلو لوستونکو د لا ښه پیژندلو له لاری لا ښې کړو تر څو وکولای شو هغه څه چې هغوی غواړي تولید یې کړو. همدارنګه د خپلو د کارونو د محصولاتو د لا ښې لاسرسی، لپاره کولای شو کار وکړو او د ټولو ذیدخلو خواوو سره د څیړنیزو اړتیاوو د لا ښې پوهې له لاری په دوامداره توګه له هغوی سره خپلې کاري اړیکې لا ښې کړو چې دغه به زموږ په کار کې د هغوی د مینې ډاډه کولو سره مرسته وکړي، همدارنګه به مرسته وکړي چې خلک زموږ له خبرو سره لیوال وساتي، ځکه چې هغوی به د پروسې په ټول بهیر کې بوخت وي.

همدارنګه فکر کووم چې د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره د مسایلو او معتبرو پاڼو په اړه چې موږ یې خپروو بحثونو ته وده او ترویج ورکړو. کله چې موږ یوه خپرونه خپره کړو نو اکثره د لویې کچې مراسم او کنفرانسونه لمانځو خو په نورو مواردو کې د بیلګې په توګه باید چې د ګردی میز لپاره خلک راغونډ کړو تر څو وکولای شو په لا تفسیل او ژوره توګه دغو مسایلو باندی بحث وکړو. داسی فکر کووم چې دا یو غوره رول دی چې دغه اداره یې کولای شي ترسره کړي کوم چې به موږ ته لار هواره کړي څو خپل پوهاوی هغو اړونده خواوو ته وغځوو چې زموږ د څیړنې په وړاندی لیوالتیا ښائي.

د دغه اداری د راتلونکي لپاره ستاسو تر ټولو لوړ لومړیتوبونه او موخې څه دي؟

له یوی خوا، زه بنیادي لومړیتوبونه او موخې لرم، لکه په دننه کې دغه اداره د یوی موسسی په شکل جوړولو ته دوام ورکول، د خپلو کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول، د تعلیمي او صمیمی کاری فضا چې موږ لرو د هغه ساتل او د خپلو بیلا بیلو څانګو تر منځ د خبرو اترو د اړیکو لا ښه کول. له بلې خوا، زما موخې په زیاته کچه زموږ په کار باندی ټینګې دي چې: د خپل د کار د کیفیت ساتل او ذیدخله خواوو ته د رسیدو د ښه والی دوام او داسی ډاډ تر لاسه کول چې هغه څه چې موږ یې تر سره کوو د هغو خلکو لاسته ورسیږي چې ورته اړتیا لري.

له پورته څخه زیات به د اړیکو په جوړولو باندی ټینګار وي، چې په حکومت، مدني ټولنه او مرستندویه ټولنه کې له ذیصلاحو خواوو او برخه والو سره غونډې وي، لدی چې ستري او له غړو ډکې مراسم په لاره واچوو. دغه غونډې او اړیکې زموږ کوښښ ته اړتیا لري، چې غونډو ته تګ باندی ټینګار وکړو او له خلکو سره اوږدمهاله اړیکې رامنځته کړو. په خپلو کلنیزو پلانونو کې د دغه شان فلسفی ځای پر ځای کول به په خپل وار زموږ د کار تناسب او ګټورتیا لا ښه کړي.

داسې څه وروستنې فکرونه لری چې وغواړی د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداری له ټولنې سره یې شریک کړی؟

په بې صبری سره په دغه اداره کې د خپل د کار دوام ته سترګې په لاره یم چې تر اوسه پورې غوره تجربه وه. د ساتلو او پراخولو تنګونه چې اندریو وایلدر او پال فشتاین زما پخواني رئیسانو زیار ایسته چې منځته یې راوړي، هغه څه دي چې په ټینګه توګه سره به یې په پام کې نیسم او په اړه یې ډیره زیاته وړاندوینه کووم.

# په افغانستان کې د پښتو خپرونو څرنګوالی

لیکوال عبدالجمیل الکوزی

که په مقایسوي ډول سره وکتل شي په اوسني وخت کې د پښتو خپرونو علمي څېړنیز اړخ دوروسته والي په حالت کې لیدل کیږي. ځکه چې د پښتو لیکوالانو او څېړونکو د استفادې لپاره ډېرې کمې علمي او څېړنیزې منابع وجود لري. خو د پښتو خپرونو ادبي اړخ په افغانستان او د پاکستان په پېښور صوبه او بلوچستان صوبه کې پرمختګ پیدا کړې دی. که د پښتو لیکوالانو، علمي څېړونکو، خپرندویه ټولنو او زده کوونکو دې ټکي ته پام نشي نو په راتلونکي کې به د پښتو علمي څېړنیزو خپرونو د لړوالي سره مخامخ شو چې د پښتو د علمي څېړنو په وروسته والي به دلالت وکړي.

سره لدې چې د چاپ تکنالوژۍ هندوستان ته په شپاړسمه پېړۍ کې له اروپا څخه راوړل شوه خو په پښتونستان کې د پښتو موقوتو خپرونو لپاره تر ډېره وخته پورې زمینه برابره نشوه. لمړۍ ځل د پېښور د افغان په جریده کې د ۱۲۹۰ کال په شاوخوا کې د پښتو برخه پیدا شوه او بیا په ځینو نورو جریدو او مجلو لکه افغان مجله، سرحد مجله او نورو کې پښتو برخې منځته راغلې. لمړۍ پښتو (ډبرینه) چاپخانه د حاجي ترکزی لخوا په ۱۲۹۴ هجري شمسي کال د خیبر ایجنسي په شاوخوا کې چې د الجهاد په نوم ورځپاڼه یې چاپوله پیل شوه دا هغه وخت وو چې د انګریزي ښکیلاک په وړاندې جهاد اعلان شوی وو.

په ۱۳۰۷ هجري شمسي کال کې پاچا خان (د پښتون) په نوم مجله یوازې په پښتو ژبه خپره کړه، همدارنګه د المجاهد په نوم بله ورځپاڼه هم د مجاهدینو د هڅونو لپاره په ۱۳۰۲ کال کې خپریدله. سید راحت زاخیلی نه یوازې یو پښتو ناول او کیسه لیکونکی وو، بلکه لمړنی د پښتو ژورنالست هم وو چې د پښتو لپاره یې نه ستړې کیدونکې خدمتونه کړي او لمړۍ دوه اونیزه خپرونه یې د (افغان) په نوم پیل کړه. بیا د وخت په تیریدو سره پښتو خپرونې زیاتې شوې. یو داسې وخت هم راورسید چې پښتو خپرونې د افغانستان او پښتونستان له چوکاټه د باندې هم ووتلې او د نړۍ په نورو هیوادونو لکه هندوستان، آلمان او ځینې نورو کې پښتو خپرونې خپرېږي.

افغانستان ته د امیر شیرعلي خان دواکمنۍ په دوهمه دوره کې (۱۲۴۷-۱۲۵۸ لمریز کلونو) د دولتي مطبعې له راتللو او په هیواد کې د چاپ له دودیدلو سره سم پښتو ژبې هم د رسنیو په لمن کې ځای وموند او د پښتو په باب د کتابونو په خپریدو سربیره د شمس النهار (۱۲۵۲ لمریز کال) په جریده کې هم د پښتو رسمي او عسکري نومونه د خلکو دخبرتیا لپاره خپاره شول. همدا راز په سراج الاخبار کې هم پښتو ته برخه ورکول شوه او د پښتو په باب څېړنې پیل شوې. د غازي امان الله خان په دوره کې هم د ټولو خپرونو په لمن کې د پښتو ځای شته او د پښتو لومړنۍ اکاډمي جوړه شوه. څو ددې ټولو هڅو په رڼا کې د ۱۳۱۱ کال په پیل کې د طلوع افغان جریده ټوله په پښتو ژبه واوښته، او د همدې کال په پای کې د کندهار د پښتو انجمن (پښتو) مجله خپره کړه.

که په عمومي ډول سره نظر واچول شي له یوه اړخه پښتو خپرونې مخ په وړاندې تګ کې دي او د بل اړخه یې وروسته والي پیدا کړې. هغه داسې چې دا د بې لحاظه پښتو خپرونو وړاندې تګ پیدا کړې دی او د څېړنیز اړخه یې وروسته والی پیدا کړې دی. داځکه چې د ۱۳۵۰ کلونو په شاوخوا او د داود خان د جمهوري ریاست ترپای پورې د پښتو خپرونو ادبي او څېړنیز اړخ قوي بربنیده ځکه چې په هغه وخت کې کلتوري فعالیتونه زیات وو او هرکال به د پښتو خپرونو لپاره سیمینارونه جوړیدل چې د هر سیمینار په پای کې به یو لړ کتابونه لیکل کیدل او خپریدل. ولې اوس لپاره داسې سیمینارونه کم جوړیږي او که جوړ هم شي نو د کتابونو په لیکلو او خپرولو باندې دومره زور نه اچوي. د هغه وخت حاکم دولت دا کوښښ کاوه چې پښتو څېړنیزې خپرونې زیاتې کړي دا ځکه چې یو اساسي هدف یې هم دا وو چې ددې خپرونو له لارې پښتونستان پورې اړوند پښتنانه ملتونه راخپل کړي، ولې اوس داسې نده.

د پښتو خپرونو د ادبي اړخ زیات وړاندې تګ د ډېرو پښتو ویب پاڼو او زیاتو ادبي ټولنو په پام کې نیولو سره څرګند دی. چې دا وړاندې تګ هم پدې پورې اړه لري چې اوس پښتو خپرونې د عامو خلکو لاسونو ته غورځیدلې، چې همدا لړۍ د افغانستان د شوروي یرغل سره سم د مهاجرتونو په دوره کې په خاصه توګه هغه مهاجرین چې د پاکستان د پېښور او بلوچستان صوبو او همدارنګه ځینې اروپایي هیوادونو لکه آلمان ته لاړل، شروع شوه. پخوا چا په اسانۍ سره نشو کولای چې آزادې خپرونې وکړي، خو اوس د یو مثبت پرمختګ په بڼه خپرونې د عامو خلکو په لاسونو کې دي او هر کله چې یوه ژبه د عامو خلکو لاسونو ته وغورځي هغه هیڅکله هم نشي له منځه تللی.

د پښتو څېړنیزه خپرونو د اړخ د کمزورۍ کیدو دلیل دا دی چې هغه کتابونه او منابع چې په څېړنو باندې لیکل شوي وي د جنګونو له امله له منځه لاړې او یا هم د ډله ایزو او سیاسي تعصبونو له کبله وسوزول شوې، ځکه خو د پښتو څېړنیزو خپرونو د پرمختګ لپاره د پښتو څېړنیزو خپرونو ډېرې زیرمې نشته. خو د دري او فارسي ژبو څېړنیزو خپرونو اړخ نظر پښتو ته زیات دی، دا ځکه چې د دري خپرونو لپاره یوه منبع وجود لري چې ښه بیلګه یې د ایران خپاره شوي کتابونه دي چې زیات لیکوالان هغو کتابونو ته مراجعه کوي او ورڅخه ګټه اخلي.

د ۱۳۸۰ کال څخه را په دېخوا په عمومي ډول سره خپرونې او رسنۍ زيات پرمختګ پيدا کړې چې پدې پرمختګ کې دولتي او شخصي ټولې خپرونې راځي چې تقريباً نيمايي پښتو خپرونې دي، چې دا خپرونې په زياتره ډول سره ژورنالستي اړخ لري لکه تصويري، غږيزې او نوری کاغذي رسنۍ. دا ټولې رسنۍ موږ کولای شو چې په درې ډلو باندې وويشو:

لمړی: حکومتي رسنۍ چې د حکومت د پاليسۍ سره سم عمل کوي او د حکومت د بودجې پوسيله خپريږي، او کومه احصاييه چې د کلتور او ځوانانو د وزارت لخوا شوی، ۵۸ عنوانه نوبتي خپرونې د اوس لپاره په فعال ډول خپرونې کوي چې د دوی له هغه جملې څخه ۲۹ عنوانه نوبتي خپرونو يې د خپرونې جواز هم لري، په ژبني لحاظ سره نوبتي خپرونو خپلو توازن په پښتو او نورو ژبو کې ساتلي دي.

دويم: هغه نوبتي خپرونې چې د غير دولتي موسسو او نورو غير دولتي ارګانو نو لخوا خپريږي. دا خپرونې د خپلې اړوندې موسسې او ارګانونو د پاليسيو مطابق عمل کوي، ځکه چې مالي لګښت يې په اړوندو ادارو پورې تړلی دي. پدوی کې ژبني توازن ډېر قوي نه ليدل کيږي، اکثره غير دولتي موسسې خپلې خپرونې په انګريزي ژبه باندې چاپوي چې په لږ پيمانه سره يې په دريو ژبو باندې ژباړل کيږي ولې په ډېره ټيټه کچه سره په پښتو ژبه باندې ژباړل کيږي. خو ددې ګروپ احصاييه لاتراوسه پورې په سم ډول سره نده شوې هر څو که دا خپرونې نظر دولتي خپرونو ته زياتې دي، چې ځيړنيز اړخ يې هم ښه دی.

دريم: آزادې نوبتي خپرونې چې په دولت او کومې موسسې پورې تړلې نه وې، دا خپرونې ۲۹۸ عنوانه دي چې د هيواد په کچه خپلې خپرونې ترسره کوي چې د هغوی له ډلې څخه ۱۹۸ يې په مرکز او متباقي يې په ولاياتو کې خپرونې کوي. دوی هم په مختلفو ژبو سره خپرونه کوي[1]، او دا به ډېره مشکله وې چې وويل شي چې آيا دوی ژبنی او ځيړنيز توازن ساتلی دی او که نه؟ خو پدې کې ډېر داسې خپرونې هم شته چې د آزادې خپرونې ترنوم لاندې د کوم بل هيواد او يا ګوند لپاره کار کوي، چې ځينې وختونه د مباحثو سبب هم کيدای شي.

پښتو خپرونې د افغانستان په مرکزي برخو کې په کمه پيمانه ليدل کيږي، خو داسې خپرونې چې په دوو ژبو لکه پښتو او دری خپريږي، په ډېره زياته پيمانه سره ليدل کيږي. په ختيځ او سهيلي ولايتونو کې يوازې پښتو خپرونې زياتې ليدل کيږي چې په هغوی کې هم د ځيړنيز اړخ په پرتله ادبي اړخ زيات غښتلی وي. د بيلګې په ډول د هيواد په ختيځو ولايتونو کې نژدې د ۵۵ عنوانونو په شاوخوا کې نوبتي دولتي او غير دولتي خپرونې شته دي چې په سلو کې ۹۰ يې يوازې په پښتو ژبه باندې دي، چې په سلو کې ۷۰ برخه يې په ادبي موضوعاتو باندې راڅرخي.

او هغه خپرونې چې په هرات کې ترسره کيږي په سلو کې ۹۸ يې په دری يا فارسي ژبه باندې دي چې ځيړنيز، تاريخي او ادبي اړخونه يې ښه بريښي دا ځکه چې هلته زياتره خپرندويه ټولنې او ليکوالان د ايراني کتابونو څخه ګټه اخلي.

په وروستيو شپږو کلونو کې د پښتو او دري خپرونو سره پخوا کې يوې بلې ژبې پخپل ځيړنيز اړخ کې ډېر زيات پرمختګ پيدا کړ چې هغه عبارت له انګريزي ژبې څخه دی. که له ځيړنيز اړخه ورته وګورو په سلو کې ۸۰ خپرونې په انګريزي ژبه باندې دي. او داسې ډېرې ويب پاڼې شته دي چې نظر پښتو ته يې انګريزي خپرونې زياتې دي، د بيلګې په ډول د افغانستان د ټولو وزارتونو ويب پاڼې په انګريزي ژبو باندې جوړې شوې دي، او لدې خبرې بايد انکار ونشي چې ګوندې پښتو او دري برخې نلري، ولې هغه برخې يې چې د لمړي ځل لپاره ترتيب شوې د دوهم ځل لپاره چا لاس هم ندې وروړې. ټولې نوې ځيړنيزې خپرونې په انګريزي ژبو باندې وې. چې اصلي علت يې ددې نوې سياسي نظام د منځته راتللو سره د سلګونو نړيوالو غيردولتي موسسو منځته راتګ او د هغوی فعاليتونه دي. دا ځکه چې پدې موسساتو کې زياتره کارکوونکي بهرنی دي او په انګريزي ژبه باندې ليکنې کوي.

د پخوا پر پرتله زياترو نوبتي خپرونو خپله سپيڅلتيا هم د لاسه ورکړې ده. داسې دولتي خپرونې شته دي چې نوبتي خپرونې يې په بيلا بيلو موضوعګانو باندې بحث کوي، خو ښه به داوي چې د هرې اداري پورې اړوند خپرونې خپله سپيڅلتيا وساتي لکه کرنه: دوه مياشتنی علمي، مسلکي خپرونه / د کرنې او مالدارې وزارت په خپرونه کې سر ترپايه موضوعات يې په کرنې او مالدارې باندې راڅرخي، يا د(عدالت مياشتنی خپرونه / د عدليې وزارت) په دغه خپرونه کې ټول موضوعات په عدالت او قانون پورې اړوند دي. د وزارتونو خپرونې د هغوی له ويب پاڼو څخه تر لاسه کولای شې:

http://www.moj.gov.af/adalatissues.html

که له بل اړخه وکتل شي چې عبارت له الکترونيکي منابعو او د معلوماتو له ټکنالوژۍ څخه ده چې په وروستيو کې يې زيات پرمختګ کړی دی. په سلګونو او حتی په زرګونو ويب لاګونه او ويب پاڼې د افغانستان په اړوند جوړ شوی دي چې په پښتو، دری او انګريزي ژبو باندې دي. ولې د دغه ويب پاڼې بيا هم نشي کولای چې د کاغذي يا کتابي خپرونو ځای ونيسي په ځانګړې توګه د افغانستان پورې اړوند ځيړنو لپاره، دا ځکه چې ټول افغان ځيړونکي هغه سرحد پورې ندي رسيدلي چې له دغو الکترونيکي منابعو څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي، په خاصه توګه د افغانستان پخواني ځيړونکي او د پوهنتونو زياتره ځيړونکي او استادان ددې ټکنالوژۍ سره ډېره بلد تيا نلري، نو دوی بيا هم د غو معلوماتو او منابعو ته مخ وراړوي چې

[1] ويدا، کاترين. ۱۳۸۷. برګهای سبز مطبوعات [په دری ژبه]. کابل: چراغ.

دکتاب په شکل سره خپاره شوی وی.

د لیکوالانو او څېړونکو لپاره د پښتو ژبی منابع کمی بریښی، چی په افغانستان کی یوائې دعلومو اکاډمی د پښتو څېړنو مرکز دی او په پوهنتون کی د پښتو ادبیاتو پوهنځی دی، اوځینی نور شخصی منابع به هم موجودی وی چی اکثره یی په رسنیو پوری اړوند موضوعاتو باندی کار کوی. او بل مرکز په پیښور کی د پښتو اکادمی ده، خو دهغی اکادمۍ خپرونی دڅېړنیز لحاظه په ډیره ټیټه کچه کې قرار لری. داځکه چی په هغه منطقه کې څوک نه غواړی چی پښتو علمی څېړنې وکړی، دهغه ځای داکادمی غوره لیکنی چی ترسره شوی دی، د آدم خان اودرخانۍ او داسی نوری افسانوی کیسی دی.

ځینی نوری منابع هم په کندهار، کویټه بلوچستان او همدارنګه اروپایی هیوادونو کی پښتو څېړونکی له هغه ځایه څېړنی کوی او خپروی یی لکه په آلمان کی دافغانستان د(کلتوری ودی ټولنی) پنوم مرکز چی دافغانانو لخوا جوړشوی دی. خو هغه څېړنی په خپل وخت سره افغانستان کی میشته څېړونکو ته په اسانی سره نشی رسیدلای.

لپاره ددی چی څېړنیز او ژبنی بیلانس وساتل شی، غوره به داوی چی علمی څېړنیزه خپرونو ته په خاصه توګه په پښتو ژبه کی پاملرنه وشی. نو پښتو لیکوالان، څېړونکی، او نور اکاډمیکو مراکزو لپاره ددی چی د پښتو علمی څېړنو اړخ راژوندی کړی باید څېړنو ته خپله پاملرنه زیاته کړی.

## اخیستنه:


رفیع، حبیب الله. **۱۳۵۲**. پښتو خپرونی : پښتو ورځپاڼو، جریدو او مجلو پیژندګلوی. کابل: دپښتو دپرمختیا او پیاوړتیا امریت.

رهین، رسول. **۱۳۸۷**. تاریخ مطبوعات افغانستان: از شمس النهار تا جمهوریت (۱۹۷۸-۱۸۶۳). کابل : شورای فرهنگی افغانستان [استکهلم].

وداع، کاترین. **۱۳۸۷**. برگهای سبز مطبوعات. کابل: چراغ.


### د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداري نوی کارکوونکې

لن میلیچ له دغه اداری سره د طبیعي زیرمو د مدیریت په څانګه کې د څېړنې لوړ رتبه مدیر په توګه کار پیل کړ. نوموړی د وچو ځمکو د سرچینو په پوهه کې دکتورا لری، او د ځنګلونو او چاپیریال په څېړنو کې ماسټری او د مترالوجی په پوهه کې د لیسانس درجه لری. هغه راز راز تخنیکي ساحو کې کار کړی دی: د راز راز رشتوپر اساس د بشری چاپیریال د ارتباطاتو تطبیق؛ د طبیعي زیرمو پالیسی او پرمختګ؛ پایدار پرمختګ او پایدار معیشتونه؛ د فراملی اوبو زیرمو مدیریت؛ د نړیوال چاپیریال او اقلیم بدلون؛ د خواړو د مسؤنیت پالیسی او پلان جوړونه؛ او د طبیعی منابعو او د ژوو د تنوع ساتنه. نوموړی همدارنګه په زیاتو هیوادونو کې کار کړی دی: لکه اندونیزیا، انګولیا، ایران، سعودی عربستان، ګانا او یمن. هغه په نږدی تیر وخت کې په اندونیزیا کې د غواړو د مسؤنیت تحلیل بشپړ کړی دی. پته: len@areu.org.af


د *افغانستان څېړنیزه خبر پاڼه* د افغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری دری میاشتنۍ خپرونه ده. ددغه خبرپاڼې موخه داده چې لوستونکي د نوو څېړنو څخه چې په افغانستان کې په لاره اچول کیږي خبر کړي او همدارنګه د څېړنې موندنې او پایلو د ریوټونو په ویشلو او خپرولو کې مرسته وکړي. ځینی د یادو شویو منابعو څخه د انترنیټ په پاڼه د لاسرسنی وړ دي؛ زیاتره کتابونه او نوری خپرونې د دغه اداری په کتابتون کې موجودی دي، نوموړی کتابتون ددغه اداری په دفتر (د ګل فروشۍ کوڅه، د دوهمی کوڅې ګوټ) کې موقعیت لري او د یکشنبه څخه تر پنجشنبه پوری د سهار د **۹** بجو څخه تر **۱۲:۳۰** او د ماسپښین د **۱** بجې څخه تر د مازدیګر **۴** بجو پوری د څېړونکو پرمخ پرانستی دی. دغه خبر پاڼه د رویس وایلز او ډاکټر جمیل الکوزي لخوا تصنیف، د کرس بَست لخوا اصلاح او د احمد الله امرخیل او سوسن فخری لخوا په پښتو او دري ژبو ژباړل کیږي. که چیری تاسو د کتابونو یا نورو خپرونو یا سرچینو په اړه وړاندیزونه لرۍ چې باید په خبر پاڼه کې اضافه شي، نو هیله کیږي چې دغه بریښنا پتی ته بریښنالیک را واستوئ: newsletter@areu.org.af.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده چې په کابل کې موقعیت لري. ددغه اداری ماموریت د لوړ کیفیت لرونکو څېړنو تنظیمول دي تر څو پدیوسیله پالیسي او کړنلار متأثره او آګاه کړي. همدارنګه، دغه اداره په افغانستان کې د تحلیلي ظرفیت د پیاوړي کولو پواسطه د څېړنې او زده کړې کلتور ته په فعاله توګه وده ورکوي او دغه راز په سیمه کې د موجودو ستونزو په هکله فکرونو او مباحثو ته لار هواروي. دافغانستان د څېړنې او ارزونې د اداری بنسټیز لید دادی چې ددغه اداری کار او فعالیت باید د افغانانو ژوند کې ښه والی رامنځته کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په **۲۰۰۲** کال کې د مرستندویه ټولنې لخوا چې په افغانستان کې کار کوی تأسیس شوه. د دغه اداری مدیره هیأت د بسپنه ورکوونکو، د ملګرو ملتونو او نورو څواړخیزه سازمانونو او نا حکومتې سازمانونو له استازو څخه عبارت دی. دغه اداری په نږدی تیر وخت کې د اروپا کمیسیون (EC)، د دنمارک (DANIDA)، برتانیې (DFID)، سوتزرلند (SDC)، نوروی او سویدن (SIDA) هیوادونو، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنرۍ (UNHCR)، د افغانستان حکومت د کرنی اوبو او مالداری له وزارت څخه، نړیوال بانک، د اغاخان بنیاد، او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د وجهې صندوق څخه مالي مرستې تر لاسه کړی دی. دلازیاتو معلوماتو او ددغه د اداری خپرونو پي ډي ایف کاپیانو لپاره ویب پاڼه: www.areu.org.af ...

# څېړنيزه خبرونه

## د افغانستان د مطالعاتو په امريکايي انستيتيوت کې نوی رئيس



د افغانستان د څېړنو امريکايي موسسه چې په ۲۰۰۳ کال کې تأسيس شوه په کابل کې د امريکايي ميلمه پوهانو (هم ښوونکي او هم زده کوونکي) چې د افغانستان په هکله څېړنو کې بوخت وي، د هغوی لپاره يو مرکز دی له ۲۵ امريکايي پوهنتونونو څخه غړي د دغې موسسې د کار مشرتابه په غاړه لري، دغه پوهنتونونه هر يو د افغانستان په هکله د چارو درسي پروګرامونه وړاندې کوي کله چې دغه غړي په کابل کې وي نو د خپلو څېړنيزو ساحو په هکله لکچرونه وړاندې کوي، د بېلګې په توګه په دغو ساحو کې: بشرپوهنه، سياست پوهنه، تاريخ، ارت(هنر)، محلي ادبيات، او موسيقي، د دغه موسسې اوږد مهاله موخې په امريکايي پوهنتونونو کې د افغانستان په هکله ان تر جنګ څخه مخکې د زدکړو زياتول او د امريکايي مسلکي او د هغو د هم مسلکه افغاني پوهانو تر منځ د مخامخ اړيکو ټينګول دي

داکتر محمد عمر شريفي، د دغه موسسې نوی ريس په ۱۳۵۷ (۱۹۷۸) کال کې په کابل ښار کې زيږيدلی دی. نوموړی په ۱۳۷۴ کال کې له نادريه عالي ښوونځي څخه او په ۱۳۸۲ کال کې د طب پوهنځي څخه فارغ شو. د طبعي زدکړې څخه وروسته هغه په کابل کې د فرهنګ او مدني ټولنې د بنياد د څېړنو او خپرونو د رئيس په توګه دنده تر سره کړه. نوموړي له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۸ کاله پورې په نيويارک ښار کې د کولمبيا په پوهنتون کې د فرهنګي بشر پوهنې په هکله زده کړه تر سره کړه. د افغانستان د څېړنو د امريکايي موسسې په هکله د لا زياتو معلوماتو لپاره دغه ويب پاڼه وګورئ: www.bu.edu/aias.

### څېړنيزه پروژې

### د پښتنو تاريخ او توکم پېژندنه د مستندو فلمونو او نورو راز راز رسنيو د لټون وړ کمپيوټري زېرمه (ډيټابيز)

دغه نوې پروژه چې د بشر دوستۍ لپاره د ملي اهدا د پروګرام لخوا تمويليږي، د پښتنو د تاريخ او توکم پېژندنې په هکله به د موادو ساتنځای په ښه يوه زيرمه رامنځته کړي دغه ساتنځای چې د دغې پروژې په پلان کې ده، هم به د زده کړې لپاره او هم به يو علمي زيرمه وي په دغه زيرمه کې به متنونه، پښوييزه مواد او راز راز رسنيز مواد به په اسانه توګه د پلټنې وړ وي دغه پروژه به د اساسي معلوماتو له پلټنې او د ښار توان څخه زياتې خاصې وړانديښې رامنځته کړي؛ د بيلګې په توګه دغه ويب پاڼه به د خلکو، ځايونو، سازمانونو او پيښنو په هکله چې په نوی متنونو (لکه ويبلاګونو او نويو کيسو) کې ذکر شوی د هغو په هکله تاريخي او کلتوري شاليد وړاندې کړي.

دغه پروژه د توکو په راغونډولو پيل کوي، او په ځانګړې توګه د داسې کتابونو او متنونو پلټنه کې ده چې تری اقتباس او لنډ تعريفونه واخستل شي، په ځانګړې توګه: د ۱۹ او ۲۰مې پيړۍ د لومړيو متنونه چې نور نه چاپيږي خو داسې توکي پکې موجود دي چې د معاصرې کتنې وړ دي؛ انځوري توکي چې ورځنې فعاليتونه څرګندوي لکه؛ د خصوصي فضا جوړښت، د لاسي کارونو لپاره اوزار او تخنيکونه؛ او داسې نور توکميزه مواد. د دغه پروژې په هکله لا زيات معلومات په دغه پاڼه کې موجود دي: http://csproj2.colgate.edu/neh

د اړيکو پته: اليکساندر ناخيمووسکی
د کمپيوټر د پوهې څانګه، کالګت پوهنتون
هيملټن، نيويارک ۱۳۳۴۶
adnakhimovsky@eolgate.edu

### په کابل کې د دوه نوو څېړنيزه ادارو جوړيدنه

حکومتي نهاد (GI-A): له دغه نوی څېړنيزه ډلې څخه موخه د اغيزمنه حکومت دارۍ پياوړی کول دي ترڅو د افغانستان په اقتصادي او ټولنيزه پرمختګ کې څه بدلون رامنځته کړي. له دغه نهاد څخه موخه د حکومتدارۍ په پرمختګ کې د لومړني تاسيس په شان ده، او خاص تمرکز به يې د حکومتي او مدني ټولنې موسسو د اغيزمنتيا، شفافيت، حساب ورکونې، او ټينګښت باندې وي. دغه نهاد به د سمو پاليسيو د رامنځته کولو او پر مشهودو بناوو باندې د تصميم نيولو د ترويج لپاره څېړنې، سروې، او ارزونې تر سره کړي.

دغه نهاد له افغانستان څخه د باندې پوهنتونونو او موسسو سره کاري اړيکې ټينګې کړې دي، د بيلګې په توګه: د لندن د روغتنپالنې او تراپيکل ميډيسن پوهنتون، د تهران طبې پوهنتون، او د هندوستان د روغتيا د مديريت څېړنيزه نهاد. د دغه نهاد او د هغه د همکارانو لومړني تمرکز به د روغتيا په مسايلو باندې وي هغه اشخاص چې غواړي له دغه نهاد سره اړيکې ټينګې کړي دغه پتې سره دې اړيکې ټينګې کړي؛ بريښنا ليک؛ giafghanistan@gmail.com ، ټيلفون؛ ۰۷۹۸-۲۲۳-۰۲۷ ...

د علمي څېړنو څانګه، د لوړو زده کړو لپاره د کاتب انستيتيوت: دغه انستيتيوت چې ملي سرک باندې موقعيت لري د علمي څېړنو يوه څانګه يې جوړه کړې ده، تر څو په لاندې ساحو کې د علمي څېړنو له لارې د هيواد د پرمختګ له بهير سره مرسته وکړي: حقوقي مسايل (اوسني حقوقي مسايل، د بشري حقونو د پرمختګ، عدلي سکتور، بيارغونه، د جنايي جرايمو قانون او د جنايي جرايمو څېړنه)؛ سياسي مسايل (دولت، ټولټاکنې، ديموکراسي او مدني ټولنه)؛ ټولنيزه مسايل (فساد، نشه يي توکي، امنيت، ښځې او ماشومان، او مهاجرين)؛ کلتوري مسايل (ژبه او ادبيات)؛ او خالصه څېړنه (سياسي افکار او فلسفه، او اسلامي څېړنې). د لا زياتو معلوماتو لپاره: بريښنا پاڼه: www.kateb.edu.af او بريښنا پته: info@kateb.edu.af ...

# د دغې اداری اوسنۍ څيړنې

لاندني متنونه د افغانستان د څيړنې او ارزونې د اداري د اوسنيو څيړنيزو فعاليتونو يوه کره کتنه ده او د هغه معلوماتو يوه بشپړونه په ګوته کوي چې زمونږ په ويب پاڼه کې د لاسرسۍ وړ دي.

## جندر

د جندر څيړنيزه پروګرام غواړي چې په افغانستان کې د جندر د داينامیزم پراخه پوهه ترلاسه کړي، ترڅو ځنې پراخې نمونې (کليشې) وننګوي او د دواړو ښځو او نارينه وو د ګټو لپاره پاليسي او پروګرام جوړونه په ښه توګه آګاه کړي. څلور څيړنې چې په لاندنيو موضوع ګانو باندی تمرکز کوي اوسمهال دغه اجندا تعقيبوي: کورنی داينامیزم او کورنی تاوتريخوالی؛ په ملی کچه د جندر پرمختګ؛ د شخړو د هوارولو ټولنيز ميکانيزمونه او جندر؛ او په محلی حکومتدارۍ او پرمختيايي پروژو او پروګرامونو کې د ښځو ګډون. کورنی تاوتريخوالی او داينامیزم او په ملي کچه د جندر د پرمختګ په هکله د څيړنې تحليل، ليکل او خپرونې په وروستيو مرحلو کې دي. همدارنګه، د شخړو د هوارولو د ټولنيزه ميکانيزمونو د څيړنې ساحوی څيړنه په بلخ ولايت کې روانه ده؛ د دغه څيړنې ليکنه او خپرونې به د روان کال په وروستيو کې ترسره شی.

د ۲۰۰۸ کال د می په مياشت کې د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداری د جندر او په محلي حکومتدارۍ او پرمختګ کې د ښځو د ګډون په هکله خپله تر ټولو لا نوی څيړنه پيل کړه. دغه څيړنه راز راز انګيرنې چې د ملی پيوستون د پروګرام او د نورو نا حکومتي سازمانونو په پرمختګ کې د جندر د ګډون د مساواتو د نوښتونو د توجيه کولو لپاره يکار کيږی آزمايي. دغه پروژه به په ځانګړی توګه په هغو انګيرنو باندی تمرکز وکړی چې د کليو په کچه په محلي حکومتدارۍ او د کوچنيو مالياتو د پورونو په ډلو کې د ښځو ګډون د افرادو او يا ډلو په توګه د ښځو په پياوړی کولو کې چوپړ کوی او له دغو لارو دغه څيړنه د کورنۍ او د محلي ټولنې په شرايطو کې د جندر په داينامیزم باندی د ښځو د ګډون په اغيزه باندی تمرکز وکړی دا چې د کليو په کچه د ښځو د ګډون کوم اړخونه د ښځو له پياوړی کولو سره مرسته کوی او يا يې محدودوی، د دغو اړخونو پيژندل د دغه څيړنې موخه ده. همدارنګه هم په عام او هم خصوصی چاپيريال کې د ښځو په نفوذ او واک باندی تمرکز کوی، ترڅو د فعالينو په توګه د افغانو ښځو مقام څخه عامه خبرتيا رامنځته کړی او په همدی وخت کې، په دی پوهيدو کې چې ښځې څنګه هر وخت د ظلم قربانی ګرځي دغه څيړنه به رښتنپاله وی. د اړيکو لپاره: deborah@areu.org.af

## حکومتداری

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره حکومت داري په پراخو اصطلاحاتو بيانوي، لکه د پريکړو کولو پروسه او د دغو پريکړو پر ځای کول. د دغې اداری په چوکاټ کې د حکومت دارۍ د څيړنيزه پروګرام موخه په امنيت او ثبات، د جګړی څخه وروسته بيا رغونه او پرمختګ کې بوخت داخلي او خارجي فعالين دي، څو هغوی (نوموړي فعالين) په افغانستان کې د حکومت دارۍ اړوند مسايلو څخه خبر کړي. د حکومت دارۍ څيړنيزه پروګرام څيړنې او سمهال په دغو ساحو باندی تمرکز کوي:

### د مرستو اغيزمنتيا

دغه روانه پروژه په افغانستان کې د مرستو مديريت آزمايي. له دی څخه دمخه د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداری څيړنيزه موندنې چې د حکومت جوړونې او د مرستو اړيکې سپړي، خپرې کړې دي. راتلونکی څيړنه په سيمه ييزه، ملي او نړيواله کچه د افغانستان د ملی پرمختګ ستراتيژۍ او په اغيزمنه توګه د مرستو د پلي کولو پر وړاندی ننګونې آزمايي.

### مرسته او امنيت

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره د تفتس په پوهنتون کې د فينشتاين نړيوال مرکز سره په ګډه د ۱۵ مياشتو لپاره يوه څيړنه په غاړه اخلي ترڅو د امنيت او مرستو تر منځ اړيکې وسپړی. دغه څيړنه به د موضوعي مطالعاتو په اساس چې د ولايتي بيا رغونې د ټيمونو په فعاليتونو متمرکزي دي، ترسره شي. موندنې به د پروژې په ټول بهير کې خپريږي او يوه وروستۍ ترکيبي خپرونه د ۲۰۰۹ کال د پای لپاره طرح کيږي.

### د ټول ټاکنې پروسه

دغه پروژه د ولس مشرۍ، ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو د ۱۳۸۸ لمريز کال د ټولټاکنو پر وړاندی تخنيکي او سياسي ننګونې څيړي. د ۲۰۰۸ کال د وروستيو لپاره د يوې توضيح پاڼې ليکنه په پام کې نيول شوی ده.

### د سيمه ييزه حکومت دارۍ په کچه د پاليسيو پروسه

د سيمه ييزه حکومت دارۍ په کچه د پاليسيو د پروسی د چلوونکو اشخاصو او اجنداوو د پوهې لپاره څيړنه روانه ده. د ۲۰۰۸ کال د وروستيو لپاره يوه توضيح پاڼه او يوه کاري پاڼه پلان شوی ده.

### سياسي ګوندونه

دغه څيړنه د هيواد په تير نږدی تاريخ کې د سياسي ګوندونو رول ګوري، او همدارنګه په معاصر افغانستان کې د ګوندونو بالقوه ګټې او زيانونه ارزوی. د اړيکو لپاره: rebecca@areu.org.af

## روغتيا

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداري په نږدی تير وخت کې د اعصابو د ارامۍ درمل (هغه درمل چې په دماغي فعاليت باندی اغيزه کوی، لکه ډيازيپم چې د والييم په نوم يې هم يادوی) د ناڅرګنده کارولو په هکله يوه لنډه څيړنه ترسره کړه. دغه څيړنه د دغه شان درملو د سمبالولو، کارولو او د مقرراتو بنې په ګوته کوی. د ۲۰۰۸ کال د اګست په مياشت کې به دغه اداره د نوموړی څيړنې په هکله يوه توضيح پاڼه خپره کړی. دغه

خېړنه به د ۲۰۰۹ کال په لومړیو کې دوام پیدا کړي، خو د افغانستان په دریو ولایتونو کې د یوې پراخې مطالعې لپاره (خو پریکړه لا نده شوې). دغه خېړنه به هغه موضوع ګانې چې په توضیح پانه کې په ګوته شوې وې، د هغو (موضوع ګانو) خېړلو ته به ادامه ورکړي، او د اعصابو د ارامۍ د درملو انګیرنې، سمبالول، د تقاضا نمونه، زدکړه، او پروګرامونه لا زیات وسپړي. د اړیکو لپاره: deborah@areu.org.af

## معیشتونه او د بشر مسؤونیت

په ۲۰۰۸ کال کې د دغه اداری د معیشتونو او د بشر مسؤنیت خېړنه په دوه مطالعو باندې تمرکز کوي. یوه مطالعه هغه عاملونه آزمایې چې دماشومانو د غریبکاری په هکله د بیوزلو کورنیو په پریکړو باندې اغیزه کوي؛ دغه خېړنه د ۲۰۰۷ کال د جون په میاشت کې پیل کیږي او د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنری او د ماشومانو د حقونو کنسرسیوم (د یو کار د پلې کولو لپاره د څو شرکتونو یا بانکونو ائتلاف) لخوا تمویلیږي. دغه مطالعه به د دغه اداری د ماشومانو د غریبکاری په هکله له اوسنی خېړنې سره مرسته کوي، له دې درک سره چې ټولې بیوزله کورنۍ خپل ماشومان غریبکاری کې نه بوختوي، او وړاندیزېږي دادی چې د کورنیو بیوزلی د ماشومانو د غریبکاری یوازنی عامل ندی. د موضوعی خېړنو دغه لړۍ هڅه کوي چې هغه عاملونه وپېژني چې په دغه شان پریکړو باندې اغیزه کوي. په دریو خېړنیزه ساحو کې د لږو ټاکل شویو کورنیو د پراخو مرکو له لارې دغه کار تر سره کیږي: کابل، هرات او اسلام قلعه ته نږدې یو سرحدی کلی؛ او یو کلی په بدخشان کې. دغه خېړنې به له خېړونکو سره د کورنیو د امرار معیشت له لارو د ډولونو په پوهه کې مرسته وکړي، او دا چې کورنۍ دغه لاری څنګه ارزوي، او دا چې ولې د ماشومانو له غریبکاری څخه کار اخستل کیږي او یا نکیږي. د دغه خېړنې موندنې به د معیشتونو د مسؤنیت او د ماشومانو د ساتنې د پرمختګ په هکله پالیسی او پروګرام جوړونه آګاه کړي. دغه خېړنې د لومړنیو معلوماتو د راغونډولو پروسه بشپړه کړې ده؛ یوه موضوعی پانه او سمهال د لاسرسنې وړ ده، او دوه نوری به د آګست په میاشت کې خپری شی. د خېړنې د پای ترکیبی او توضیح پانې به په منی کې د لاسرسنې وړ وګرځی.

دوهمه خېړنه چې د افغانستان د معیشت تګلارې په نوم یادیږي، د ۲۰۰۸ کال د مې په میاشت کې (د برتانیې د اقتصادی او اجتماعی خېړنیزه شورا په مالی مرسته) پیل شوه او د دوو کالو لپاره به دوام پیدا کړي. په دغه خېړنه کې به هغو کورنیو ته بیا د خېړنې لپاره ورشی چې ۰۳-۲۰۰۲ کال کې د کلیواله معیشتونو لپاره ټاکل شوې وې، تر څو څرګنده کړي چې د دغو کورنیو معیشتونه څه ډول او په څه دلیل په دغو پنځو کلونو کې بدلون موندلی دی. خېړنه به د دغو پنځو ولایتونو په درو کلیو کې تر سره شی؛ سرپل، فاریاب، هرات، بدخشان او کندهار. په بدخشان او کندهار کې به د آغاخان بنیاد او مرسی کراپس په همکاری سره مطالعه تر سره کړي. د دغه خېړنې پایلې به د معیشت د بدلون د ډولونو یوه بې ساری او مهمه پوهه وړاندی کړي، دغه پوهه به په یوه کلی کې د کورنیو تر منځ او د نورو کلیو له کورنیو سره او همدارنګه په یوه ولایت کې د کورنیو تر منځ او د نورو ولایتونو له کورنیو سره د معیشتونو د یووالی او توپیرونو د ارزونې پر بنسټ وړاندی شی. د دغه خېړنې موخه په ټولنیزه، اقتصادی، سیاسی او اګرو ایکالوجې (د ټولنپیژندنې حدود) شرایطو د توپیرونو پوهه ده چې څه ډول نوموړی پیژندل شوی بڼې تشریح کوی، او دا چې دغه بڼې د کرنیز او کلیواله پرمختګ پروګرامونو او پالیسی لپاره څه ارزښت لری. د اړیکو لپاره: paula@areu.org.af

## د طبیعې سرچینو مدیریت

د افغانستان د خېړنې او ارزونې اداری د طبیعې سرچینو دمدیریت خېړنه د افغانستان د ملی پرمختګ د ستراتیژی د کرنی هویت په افغانستان کې د ودې لپاره د لومړیتوب د یوې کلیدی ساحې په توګه تاییدوی. د ملی پرمختګ ستراتیژی همدارنګه څرګندوی چې په مشروع کرنه باندې ټینګار او د مشروع کرنی پراختیا د نشه یې توکو پرضد د مبارزی د پالیسۍ د ملاتړ لپاره غوره ده. د دغو لومړیتوبونو تر شاه د افغانستان د طبیعې سرچینو د مدیریت د ښه والی څرګنده اړتیا پرته ده، په ځانګړې توګه د خړوبه کولو د اوبو، د ځمکو امنیت او څارویو. دغه اداره د لاندینو دوو پروژو له لاری د طبیعې سرچینو د مدیریت خېړنه تر سره کوي:

## په افغانستان کې د اوبو د مدیریت، د تریاکو د اقتصاد او د څارویو په هکله عملی موضوعی خېړنه

دغه اوږدمهاله او موضوعی خېړنې چې په کندز او غزنی کې د ۲۰۰۸ کال د اپریل په میاشت کې پای ته ورسیدې، خو په هرات او ننګرهار او د کوچیانو په ټولنو کې ادامه لری. د دغه خېړنې موخه په مشروع کرنیزه تولیداتو د ښه والی لپاره د فرصتونو پیژندنه او همدارنګه د بزګرانو په هغو کړنلارو باندې له ټینګار څخه دی چې د طبیعې سرچینو غلطه استعمال څرګندوی. د دری کلونو لپاره لومړنیزه معلومات را غونډ شوې دی؛ د دغه خېړنې ۴م او ۵م کال به په پالیسۍ باندې د نفوذ لپاره د موندنو په ویشلو باندې تمرکز وکړي.

## په افغانستان کې د ځمکو پر سر د شخړو او زیانمننی د په ښه کولو لپاره د ظرفیتونو جوړول

د دغه پروژې موخه په کلیواله او نیمه ښاری سیمو کې د ځمکو پر سر د شخړو د هوارولو لپاره د میتودونو طرح، آزمایښت او سمول دی. د شخړو پنځه ډوله وټاکل شوی او تحلیل شوی، د هری شخړې لپاره تر ټولو لا ښه اړوند میکانیزمونه په ښه شوی دی، او همدارنګه د دغو شخړو لپاره اړونده شریکان په دغه پروژه کې په کار ګمارل شوی دی. دغه اداری د حکومت کارکوونکو لپاره د اړوندو قوانینو او پالیسیو لپاره یو ورکشاپ تر سره کړی دی. د اړیکو لپاره: len@areu.org.af

# د دغې ادارې نوې خپرونې

د ۲۰۰۸ کال د اپریل او جولای میاشتو ترمنځ

## معیشتونه

"په ایران کې د افغانانو دوهم نسل: ځای په ځای کېدل، هویت او ستنديل،" د محمد جلال عباسی شهوازی، دیانا ګلیزبروک، غلام رضا جمشیدی، حسین محمودیان او رسول صدیقی لیکنه. دغه څېړنیزه پاڼه د دوهم نسل د زدکړې، د دندې او ټولنيزو شبکو تجربې د بيرته ځای پر ځای کېدو د موضوع په چوکاټ کې سپړي. دغه څېړنه په ایران کې د دوهم نسل ځوانو پوهيونکو خپل ځاني تشريح په افغانستان کې د خپلو سيالانو يا هم سارو، خپلو ايراني همځولو او د هغوی ميندو پلارونو سره په تړاو کې ازمايي. دغه څېړنه هغه مسايل سپړي چې د افغانانو د دوهم نسل په انګېرنو او نيتونو باندې اغېزه کوي، او همدارنګه د يو وطن په توګه د افغانانو د دوهم نسل نسبت افغانستان او يا ايران ته هم سپړي.

"کوچنی، غیر رسمي پورونه او کليواله معيشت د باميانو په ولايت کې د يو کلي موردی مطالعه،" د ايرنا اندرسن، پالا کانتور او امندا سيم ليکنه، دغه د درو موردي مطالعو له لړۍ څخه دوهمه پاڼه ده چې په افغانستان کې د کليو او کورنيو په اقتصاد کې د کوچنيو پورونو داخليدل په غير رسمي پور او د معيشتونو محصولاتو باندې نيغ په نيغه او يا په غير مستقيم ډول څه اغيزه کوي. دغه اغيزه به په ټوليزه توګه د کلي په اقتصاد باندې د اغيزو له لارې وسپړل شي.

## د طبيعي سرچينو مديريت

د اوبو مديريت، څاروی او د ترياکو اقتصاد: په افغانستان کې د اوبو لګولو د سيستمونو ډولونه، دغه څېړونه د باب روت لخوا ليکل شوی يوه موضوعي پاڼه ده چې "په افغانستان کې د اوبو لګولو د سيستم د ډولونو پوهه رامنځته او وړاندی کوي دغه پاڼه د اوبو لګولو د ميتودونو او مديريت پوهه لوړوي او موخه يې د دغه سيستم د فعاليت او توليد ښه والي دی، او همدارنګه مقصد يې دا دی چې هغه نهادونه او يا اشخاص چې د اوبو لګولو په ښيا رغولو او د طبيعي سرچينو په مديريت کې کار کوي هغوی د اوبو لګولو د سيستمونو او د معيشتونو د ټينګښت ترمنځ اړيکو څخه آګاه کړي."(د دغه کتاب پښتو او دری ژباړه به په راتلونکې کې خپره شي)

"بيا زياتيدل او لړوالی: ننګرهار او غور کې په ۷-۲۰۰۷ کلونو کې د کوکنارو د کر د متغييرو کچو بيان،" د ډيويډ منسفيلډ لخوا ليکل شوی يوه موردی څېړونه ده، په دغه څېړونه کې داسې راغلي چې په ننګرهار او غور کې چې کورنۍ کوکنار کرې د اشخاصو پر سر ثابت عايد نلري چې حتی پنځوس افغانيو څخه هم نه زياتيږي، نسبت هغو کورنيو ته چې په همدغو سيمو کې دی خو کوکنار نکری او په اوسمهال کې د ډاډ وړ د نورو لارو نشتوالی سره مخامخ دي، چې وشي کولای خپل لومړي اړتياوې پوره کړي.

## ژباړه

د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداری د الف څخه تريا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود کتاب د ۷مې ګڼې پښتو او دري ژباړه؛ او د مينې ويری او تربيت: د ماشومانو پر وړاندی ورځنې تاوتريخوالی د ديبرا جی سميت د ليکنې پښتو ژباړه خپره کړه.

### دغه اداری د الف څخه تر يا: د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دری او پښتو ژباړه خپره کړه







د ۲۰۰۸ کال د جولای په مياشت کې د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د الف څخه تر يا: د افغانستان لپاره د مرستندوی لارښود د ۷مې ګڼې دری او پښتو ژباړې خپری کړې. د دغه اداری د ترټولو ستري خپرونې په توګه، الف څخه تر يا لارښود د مرستندويه ادارو يو ليست، د افغانستان د حکومتداری د سيستم بياکتنه، د هيواد د ښارونو نخشې، اساسی لومړني اسناد، او د پتو او تماسونو يو پراخ لست چې دولتی اداری، ناحکومتي موسسی بسپنه ورکونکې او نړيوال فعالين پکې شامل دی. د دغه لارښود چاپی کاپيانی د دغه اداری له دفتر (د ګل فروشی کوڅه، کابل) څخه په وړيا توګه د لاسرسنی وړ دی او نه چاپ شوی کاپياني کولای شی د دغه اداری له برېښنا پاڼې څخه په وړيا توګه راښکته کړی: www.areu.org.af.

# نوی خپروني او سرچيني

ټولي سرچيني چي په دغه برخه کي راغلي دي د دغه اداری د سرچينو په مرکز کي د استفادی لپاره موجودي دي، زياتره خپروني په هغو بريښنا پتو کي چي په دغه خبر پاڼه کي ورکړ شوی موجودی دی. ځيني کتابونه د نوموړی مرکز د کتلاګ څخه د ښکته کولو لپاره موجود دي، مشروط پر دی چي د چاپ حق يي محفوظ نوي. د لا زياتو معلوماتو لپاره www.areu.org.af او بيا د کتابتون ننبه تعقيب کړئ. د موجودو پی دی اف کاپيانو د لاسته راوړلو لپاره له دغه پتي سره په تماس کي شئ library@areu.org.af ...

نوټ: په دغه برخه کي ځيني ډير غوره دري او انګريزی خپرونو معلومات ژباړل شوی دی او نور يي د همدغي خپرونی په دري او انګريزی برخه کي درج دي. چي هغه تاسو کولای شی د دري او انګريزی برخي څخه په همغو ژبو تر لاسه کړئ. دا کار له تکرار څخه د ډډي لپاره شوی دی.

ژباړونکي

## لنډي او عمومي خپروني

**Dayani, Khalid A. and Thomas Lehmann.** *Afghan watan : jedem Ende wohnt ein Anfang inne = افغان وطن* **Konzeption, Layout, Realisierung. Frankfurt am Main, Deutschland: (Druck) Dumat, 2008. 102 p. ISBN: 9783000235214.**

د عصری افغانستان د عکسونو دغه ټولګه د هنری مستندی پروژی يوه برخه ده چي د جرمني په فرانکفورت ښار کي ځای پر ځای ده.

**Neumann, Ronald E. "Implementation : a new approach to multinational coordination in Afghanistan." Muscatine, Indiana: The Stanley Foundation, April 2008. 8 p. http://www.stanleyfoundation.org/publications/pab/NeumannPAB408.pdf (104 KB).**

د پاليسی دغه لنډيز د پلی کولو او د اوسنيو همغاړيتوب د سيستمونو په کارولو باندی د لا زيات تمرکز لپاره استدلال کوی.

**Torabi, Yama and Lorenzo Deslegues. "Afghanistan: Bringing Accountability Back In: From Subjects of Aid to Citizens of the State." Kabul: Integrity Watch Afghanistan, 2008. 43 p. http://www.iwaweb.org/BringingAccountabilityBackIn.pdf (4.27 MB).**

دغه سروی چي د انتګريتی واچ لخوا د ۲۰۰۸ کال د مي په مياشت کي تر سره شوه داسی وړانديز کوی چي د بهرنيو مرستو او د افغانستان د حکومت بی سيکه حساب ورکونه د نړيوالو حکومتداريو د پخوانيو هڅو مستقيمه نتيجه ده، که دولت جوړونه وی او که ديموکراسی راوړل، که سوله رامنځته کول وی او که د دهشت پر وړاندی جنګ. دغه سند د معلوماتو د بهير لپاره يو لړ وړانديزونه کوی.

## کرنه

**"Afghanistan Small and Medium Enterprise Development (ASMED): Market Information, Phase 2: Edible Vegetable Oil." Kabul: Altai Consulting, November 2007. 103 p. http://afghanistan.buildingmarkets.org/afghan-market-research (PDFs, 10.5 MB).**

دغه رپوټ په افغانستان کي د خوراکي نباتی غوړو توليد سپړي، د اوسنيو محصولاتو (لکه؛ کتان، کاپر ګل، کونځل، پنبه دانه، زيتون) او وړانديز شوی محصولات (کاجير، کانولا، غوړو لرونکي خرما، سويابين).

**"Community Based Approaches for Rural Land Administration and Management in Afghanistan." Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock, Islamic Republic of Afghanistan. Kabul: Asian Development Bank, 2008. 52 p. http://www.adb.org/Documents/Reports/Consultant/38221-AFG/38221-01-AFG-TACR.pdf (523 KB).**

دغه پاڼه د حکومتي او نا حکومتي فعالينو تر منځ د ګډو هڅو تجربي خلاصه کوی تر څو په هيواد کي د ځمکو اړونده ستونزي هواری کړي او د ځمکو د يو ملی پاليسی په ليکلو کي د دولت له هڅو سره مرسته وکړي؛ همدارنګه پدغه پاڼه کي د کليواله ځمکو د ثبت د محلی اداری لپاره ميتودولوژی هم موجوده ده.

**Chabot, Philippe. "Comparing Gross Revenues for Nuts and Dried Fruits in California and Opium Poppy in Afghanistan : A Review of Available Data." USDA Foreign Agricultural Service. 9 p.**

دغه يادونه د ۱۹۹۷-۲۰۰۷ کلونو په دوره کي د افغانستان د کوکنارو او د کالفورنيا د بادامو، پسته او مميزو خالص عايداتو ته ګوری. موندنه يي داده چي، په څو مواردو کي، د کالفورنيا د محصولاتو عايد د افغانستان د ترياکو څخه زيات وو. دغه يادونه همدارنګه په بازارونو کي د محصولاتو اړوندو مسايل او د دغو محصولاتو تر منځ ټوليزه ګټي ارزوی. د دغه ځيرني ليکوال سره په دغه بريښنا پته اړيکي ټينګولای شی: philippe.chabot@fas.usda.gov

## اقتصادي پرمختګ او مالي چاري

**"1387 Donors' Financial Review." Aid Coordination Unit, Directorate-General Budget, Ministry of Finance, Islamic Republic of Afghanistan. Kabul: Ministry of Finance,**

**2008. 21 p.**
د بسپنه ورکوونکو مالی ارزونه په کال کې دوه ځلې تر سره کیږي تر څو افغانستان ته د بسپنه ورکوونکو د مرستی په هکله معلومات راغونډ او تحلیل کړی. د دغه ارزوني د پایلی محصول د بسپنه ورکوونکو د وعدو، دندو، مصارفو او مرستو د طرحو په هکله د رپوټ یو کلیدی سند دی. د دغه ارزوني لومړني تمرکز پدی دی چې د بسپنه ورکوونو له بهرنیۍ بودجې څخه د مرستو د چوپړ په هکله معلومات تر لاسه کړی. سږکال د لومړی ځل لپاره دغه ارزونه د ولایتي د بیارغوني له لارې د مرستو د لګښت معلومات په بر کې لری. د دغه راپور چاپ شوی کاپیانی د مالیې په وزارت کې موجودی دی.




*Afghanistan National Development Strategy 1387-1391 (2008-2013): A Strategy for Security, Governance, Economic Growth and Poverty Reduction.* **Kabul: Afghanistan National Development Strategy Secretariat, 2008. 261 p. Also published as:** *Islamic Republic of Afghanistan: Poverty Reduction Strategy Paper* **(IMF country reports; no. 08/153). http://www.imf.org/external/pubs/ft/scr/2008/cr08153.pdf (4 MB).**
دغه د افغانستان د پرمختګ د ملي ستراتیژۍ بشپړ ټوک دی چې د ۲۰۰۸ کال د می په میاشت کې خپور شو، د پیسو د نړیوال صندوق د ټوک یو لنډیز فصل هم لری. (۲۳ مخه).

**Baudienville, Geraldine and Eric Davin. “Aid Effectiveness in Afghanistan: Paper Prepared for the Paris Conference — June 2008.” Altai Consulting. Kabul: Altai Consulting, May 2008. 45 p.**
دغه پاڼه تر نن پوری د شویو پرمختګونو یو عمومی لنډیز او د مرستو د اغیزمنتیا د ښه والی پر وړاندی چې کومې کلیدی ننګوني پرتې دی وړاندی کوی. د دغه پاڼې موخه دا نده چې ځانګړی فرعی اقتصادی سکتورونه مرور کړی، په کومو کې چې کیدای شی د مرستو پیمانه او ځانګړتیا ډیر توپیر ولری، او نا مساوی پایلو باندی برلاسی کیږی. دهغه پر ځای د پر زړه پوری فعالیتونو د ښکارولو لپاره یې یو لړ ځانګړی مثالونه، د مرستو د پلی کولو او مدیریت له لحاظه رامنځته شول، چې د پرمختګ څرګندوی دی او کیدای شی چې لا بیا هم پرمختګ ورکړل شی. نوموړی تحلیل د کلیدی اسنادو د مرور پر بنسټ شوی دی. (۷م مخ). دغه پاڼه د فرانسی د حکومت د واک او تر ګمارنی لاندی ترسره شوه.

**“Far From the Center: A Study of Jawzjan Development Planning.” Kabul: ActionAid Afghanistan, 2008. 36 p. Also published in Dari.**
”دغه راپور هڅه کوی ترڅو په افغانستان کې د سیمه ییزه حکومتدارۍ او د ولایتونو د پرمختګ د پلان جوړوني (PDP) د بهیر مسایل په ځانګړې توګه د مدنی ټولنی د لیدلوری څخه تحلیل کړی. د کال ۱۳۸۲ لپاره د جوزجان د ولایتي پرمختګ شورا ۳۱۴ پروژې د تخمیناً ۵۴ میلیونه امریکایې ډالو بودجی سره پلان کړي... خو یوازی ۱۵ پروژی پلی شوی.“ دغه راپور د دغه ستونزې د سببونو پیدا کولو ته ادامه ورکوی او د حالاتو د ښه والی لپاره حل لاری وړاندی کوی. د دغه کتاب لنډیز په اتو مخونو کې د انترنت په کرخه موجود دی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره تماس: mudasser@actionaidafg.org

*Informal Sector Survey.* **Altai Consulting. Kabul: Ministry of Commerce and Industries, 4 September 2006. 159 p. http://afghanistan.buildingmarkets.org/sites/all/downloads/Informal-Sector.pdf (783 KB).**
”دغه سروی کې هڅه کیږی تر څو د رسمیاتو او غیر رسمیاتو چلوونکې (د افغانستان په اقتصادی سیستم کې) څرګند کړی، او هم د رسمیاتو د هر یو اړخ د قبلولو یا نه قبلولو کې د سوداګرو د پریکړی تر شاه پروت دلیل باندی پوه شی“ (اووم مخ، لنډیز). برسیره پر دی چې د دغه رپوټ نیټه ۲۰۰۶ کال ده خو ښکاری چې یوازی په نږدی تیر وخت کې د لاسرسنی وړ ګرځیدلی وي.

*“Joint Staff Advisory Note on the Poverty Reduction Strategy Paper*.**” International Monetary Fund (IMF) and the International Development Association (IDA), IMF Country Report No. 08/193. Washington, DC: International Monetary Fund, 15 May 2008. 14 p. http://www.imf.org/external/pubs/cat/longres.cfm?sk=22073.0 (PDF, 183 KB).**
د افغانستان د ملی پرمختګ د ستراتیژی (۲۰۱۳-۲۰۰۸) دغه لنډه کتنه د دغه ستراتیژی د تحلیل له مخی یو لړ د قوت او ضعف ټکې په کوته کوی او څنګه چې د نوموړی ستراتیژی پلی کول پیل کیږی په ځنو ساحو کې د ښه والی لپاره وړاندیزونه کوی.

**Rahmani, Ahmad Idrees and Haroun Mir. “Regional Trade Regime & Declining Rate of Private Investment in Afghanistan.” Kabul: Afghanistan’s Center for Research & Policy Studies, April 2008. 38 p.**
”دغه څیړنه په افغانستان کې د سوداګرۍ د پالیسی د پیچلتیا په هکله د افغانانو او د نړیواله ټولني اندیښنو ته په ځواب کې تر سره شوه. په غیر الکولی مشروبو باندی دګمرکی محصولاتو له ۲۰٪ څخه ۴۰٪ ته د بی بنیاده زیاتوالی په هکله د افغانستان د حکومت پریکړی دغه پیچلتیا لا نوره هم پراخه کړه. د دغه پالیسی پاڼی لومړنۍ موخه دا وه چې د نړیوال بانک د ۲۰۰۷ کال د سپتمبر د میاشت د یادونو مسوده تعقیب کړی او د افغانستان د صنایعو او په ګاونډیو هیوادونو کې د هغو د سیالو صنایعو تر منځ رقابتی څیړنه تر سره کړی. بر سیره پر دی، د بی طرفه څیړنې تر سوره کولو په داسی یو ځای کې چیری چې د ډاډ وړ معلومات نشته، د بشپړه تحلیل او د پوره سپارښتونو د وړاندی کولو لپاره زموږ هڅې په جدی توګه محدودی کړی دی. له نورو هیوادونو سره چې لږ تر لږه پرمختلی دی د افغانستان د ټولنیز کلتور د

ځانګړتیاوو د توپیرونو په پام کې نیولو سره، ستونځمنه خبر ده چې داسی خیال وکړو چې په نورو ځایونو کې د اقتصادي ودی کامیابه واحدونه به په بریالیتوب سره په افغانستان کې پلي شي. موږ باور لرو چې په افغانستان کې موفقه پالیسۍ ښايي له دوديزه اقتصادي تحلیلونو څخه لیدلوری له یو پراخ څواصولیزه تګلاری سره چې ټولنيز او سیاسي حقیقتونه سره شاملوي، یوځای کړي. افغان پالیسي جوړوونکي دی ته اړتیا لری چې په ټولنه کې بیلابیل اقتصادي او غیر اقتصادي عاملونه، په شمول د کلتوري، سیاسي او انستیتیوتي میکانیزمونه وګوري، تر څو د پرمختګ مناسب ملي اهداف او ستراتیژي رامنځته کړي. په افغانستان کې اوسمهاله لږ اقتصادي فعالیت په لږه کچه د نړیواله مسؤلیتونو له کبله او په زیاته کچه د افغانانو لخوا د اقتصادي لید او د ښو پالیسیو د مشرتابه د نشتون له کبله دی"(۴م مخ، لنډیز).

**Chayes, Sarah. "Security and Development in Afghanistan: A Reality Check." Calgary, Canada: The Peacebuilding, Development and Security Program, University of Calgary, 2008. 3 p. http://wcmprod1. ucalgary.ca/pdsp/files/pdsp/pdsp-seminar-brief_chayes2008-longfinal.pdf.**

دغه سند د ۲۰۰۸ کال د مارچ په ۳۱ نیټه د کلګری په پوهنتون کې د سارا لخوا د ورکړل شوی سمینار لنډیز وړاندی کوی. سارا چایبس د "تقوا-سزا: په افغانستان کې دننه وروسته له طالبانو- د خپروني لیکواله د امریکې د متحده ایالاتو د ملي عامه راډیو پخوانۍ ریپوټروکوونکې وه چې په افغانستان کې پاتې شوه ترڅو دغه جنګ ځپلی هیواد د سره روغ کړي. په تیرو شپږو کلونو کې نوموړې په کندهار کې ژوند کړی او د پرمختګ په راز راز لومړیتوبونو باندی کار کوی، چې د اوسني مناقشي، او تر نن ورځ پوری د نړیواله ټولني لخوا د امدادي هڅو او د افغانستان او کندهار لپاره په مخکې لار په هکله یې بې ساري فرصت تر لاسه کړی دی. د نوموړی نظریات په افغانستان کې د روانو واقعاتو اکثره پرمختللي پوهې تنګوی، او داچې له افغانستان څخه بهر ملکونه څنګه کولای شی مرسته وکړی. سارا چایبس د هغو معمولو افغانانو تر منځ چې ژوند کوی د هغوی تجربې د اوسمهال دولت جوړوني په هکله څرګندوني کوی. د هغې لید په یو ډیره بې ثباته سیمه لکه کندهار کې د امنیت، پرمختګ او ډاډمن حکومت د ملاتړ دننګونو پوهی سره مرسته کوی"(لومړی مخ).

## بهرنۍ اړیکې

**Amin, Haron.** *Afghan-Japan Relations: Lands Under the Rising Sun*. **Foreword by Ludwig Adamec. Tokyo: Embassy of the Islamic Republic of Afghanistan, 2007. 63 p.**

"له جاپان څخه د شهزاده ایوب خان د کتني د سل کلنیزی په یاد او د ۷۲ کالو رسمي اړیکو لمانځنه" د دغه سند په چاپ کې دواړه جاپاني او




انګریزي ژبې پکار شوی دی، او محتویات یې په دغه ډول دي: ۱) د لرغونو نفوذ او د بودا مجسمې ته انساني شخصیت ورکول؛ ۲) د جاپان او افغانستان تر منځ تاریخي اړیکې؛ ۳) رسمي ډیپلوماتیکي اړیکې؛ ۴) پایله؛ لومړی جدول د افغانو مقاماتو نومونه چې له ۲۰۰۱ کال څخه را په دی خوا یې له جاپان څخه لیدنه کړی ده؛ دوهم جدول د جاپاني مقاماتو نومونه چې له ۲۰۰۱ کال څخه را په دی خوا یې له افغانستان څخه لیدنه کړی ده؛ دریم جدول په جاپان کې د افغانو ډیپلوماتانو نومونه، بستونه او د دندو نیټه؛ څلورم جدول په افغانستان کې د جاپاني ډیپلوماتانو نومونه، بستونه او د دندو نیټه (چې په ۱۹۳۴ کال کې تاسیس شوی)؛ پنځم جدول؛ د جاپان د بهرنیو چارو په وزارت کې د افغانستان د مرستو لپاره مسؤل سفیر؛ او ببلیوګرافي.

## سیاست او حکومتداري

**"Afghan and Somali Views on the United States Presidential Elections 2008: Candidate Preference Interviews, Afghanistan and Somalia (March/April 2008)." London: The Senlis Council, 2008. http://www.senliscouncil.net/documents/Afghan_Somali_Views_US (PDF, 225 KB).**

دغه سروی د دی لپاره شوی تر څو څرګنده شي چې په افغانستان او سومالیا کې خلک د امریکې د ولسمشری کاندیدان ترڅه حده پیژني.

**Safi, Mariam.** *"Afghan-Pak Joint Peace Jirga: Possibilities and Improbabilities."* **IPCS Special Report no. 51. New Delhi: Institute of Peace and Conflict Studies (ICPS), March 2008. 8 p. http://www.humansecuritygateway.info/documents/IPCS_AfghanPakJointPeaceJirga.pdf (132 KB).**

دغه سند د افغانستان او پاکستان د ۲۰۰۷ کال د اګسټ میاشت د سولې جرګې ارزونه وړاندی کوي.

**Ruttig, Thomas. Afghanistan: Institutionen ohne Demokratie: strukturelle Schwächen des Staatsaufbaus und Ansätze für eine politische Stabilisierung. Berlin: Stiftung Wissenschaft und Politik, Deutsches Institute für Internationale Politik und Sicherheit, 2008. 34 p. http://www.swp-berlin.org/common/get_document.php?asset_id=5054 (252 KB).**

دغه سند په افغانستان کې د دیموکراتیکو نهادونو د بالقوه فعالیت او کوم عاملونه چې د افغانستان د ثبات خنډ ګرځي تحلیلوی.

**Young, Dennis O. "Overcoming the obstacles to establishing a democratic state in Afghanistan." Carlisle, PA, USA: Strategic Studies Institute, 2007. 22 p. http://www.strategicstudiesinstitute.army.mil/pdffiles/PUB818.pdf.**

دغه پاڼه په افغانستان کې د دیموکراسۍ پر وړاندی پراته خنډونه

## له وچکالۍ وړاندې خبرتیا د سیستمونو شبکه
## (FEWSNET)

له وچکالۍ وړاندې خبرتیا د سیستمونو شبکه د افغانستان په هکله په ۲۰۰۸ کال کې دغه لاندې اسناد خپاره کړل:

- د خوړو د خوندیتوب ګواښونه: "له اوسط څخه ټیټ لوند موسم، لوړې بیې د خوړو خوندیتوب زیاتوي" (د ۲۰۰۸ کال، اپریل)
- د خوړو د خوندیتوب په اړه نوې خبرتیاوې: جنوري، مارچ، اپریل
- اقلیمي خطرونه: د هوا د حالاتو اوونیزه وړاندوینه
- د شمالي افغانستان د وچکالۍ د اغیزې اټکل (۲۰۰۸ کال، اپریل)

دغه اسناد د لاندینۍ ویب پاڼې پرمخ د لاسرسي وړ دي:
http://www.fews.net/pages/country.aspx?gb=af&l=en

ګوري، په شمول: د یو دیموکراتیک تاریخ او دود نشتوالی؛ د فساد خپریدونکی کلتور؛ د نشه یي توکو خپریدونکی سوداګري او د نشه یي توکو د انتقال ستونزه؛ د خلکو قبیله ییز او نژادي تقسیمات؛ او د ګاونډي هیواد پاکستان لخوا د ملاتړ او مرستې نشتوالی. د دغه پاڼې لیکوال دنړیواله ټولنې د اوسمهالو هڅو لپاره پنځه ستراتیژۍ او نظمونه وړاندې کوي.

**Haidari, M. Ashraf. "Paris Conference: An Opportunity to Address Afghanistan's Key Rebuilding Challenges." Arlington, VA, USA: International Affairs Forum, 22 June 2008. 3 p. http://www.ia-forum.org/Content/ViewInternalDocument.cfm?ContentID=6295 (HTML, 244 KB).**

د نظریاتو دغه لنډه لړۍ د پاریس د کانفرانس غوره ټکي څرګندوي، او ددې لپاره چې افغانستان مخ پر وړاندې سوق کړو نو څه ګامونه باید په سمه توګه واخستل شي.

**Progress Against the Compact's Civil Service Reform Goals : A Report of the Independent Administrative Reforms and Civil Service Commission." Kabul: Independent Administrative Reforms and Civil Service Commission, June 2008.**

د دغه پاڼې موخه دا وه چې د چارو اوسمهاله حالت، د افغانستان د تړون لیک د موخې د ملکي چوپړ د سمون قید او شرط ته په پام سره، څرګند کړي.

### روغتیا

**"Final Evaluation Reports on Health Financing Pilots: The Effects of User Fees vs. Free Services in Primary Care in Afghanistan." Kabul: Ministry of Health, Islamic Republic of Afghanistan, 2008. 131 p.**

په ۲۰۰۴ کال کې، د افغانستان د عامه روغتیا وزارت د جان هاپکنس پوهنتون او د هندوستان د روغتیا د مدیریت له څېړنیز انستیتوت




سره په افغانستان کې د روغتیایي لومړنیزو پاملرنې راز راز داسې میکانیزمونو د طرح او ارزونې لپاره تړون وکړ چې د ټولنو لخوا ورسره مالي مرسته وشي. د ۲۰۰۷ کال په پسرلي کې، د آزمایښتي تسهیلاتو وروستۍ ارزونې د ګټه اخستونکو د فیس او د وړیا چوپړ فعالیت و ازمایه، په دې توګه چې؛ عایدات یې زیات کړل، د پاملرنې کیفیت یې ښه کړ، د پاملرنې څخه د ګټه اخستنې او تمویل یې ډاډه کړ، او د روغتیایي خدمتونو څخه د ټولنې ښتنوالی کې زیاتوالی منځته راوړ. دغه څېړنیزه پاڼه د ارزونې د هغه پروسې پایلې ښکاروي. د دغه څېړنې پر بنسټ، د روغتیا وزارت د ۲۰۰۸ کال د اپریل په میاشت کې د روغتیا د خدماتو د اساسي پیغام په تسهیلاتو باندې فیس بند کړ.

**"Presentation on Mullahs HIV & AIDS Peer Education Project." Kabul: ActionAid, May 2008. Slides. 24 p.**

دغه ریپوټ (په کابل، بلخ، او تخار ولایتونو) کې د یو آزمایښتي پروژې د پایلو لنډیز وړاندې کوي، دغه وړاندوینه د اچ ای وی ایدس د ملي ستراتیژیک پلان لاندې کیږي. دغې پروژې د مذهبي مشرانو او د زده کړو پروګرامونو له لارې چې ملایانو ته د نورو دیني عالمانو لخوا ښوونه کیږي، د عامه روغتیایي معلوماتو(په شمول د اچ ای وی ایدس) په خپرولو باندې تمرکز کاوه.

*Saving the lives of mothers and newborns in Afghanistan.* **Kabul: Save the Children, March 2008. 57 p. http://www.savethechildren.org/publications/technical-resources/saving-newborn-lives/snl-publications/Afghanistan-2008-Sit-An.pdf.**

د افغانستان د ۲۰۰۷ کال د روغتیا سروې د زیږیدنې پرمهال د کوچنیانو د مړینې تخمینې اندازه په ۱،۰۰۰ کې ۱۲۹ او همدارنګه د ۵ کلونو څخه کوچنیو ماشومانو د مړینې تخمینې اندازه یې په ۱،۰۰۰ کې ۱۹۱ څرګنده کړه. چې له پنځو کلونو څخه د کوچنیو ماشومانو د مړینې په اړه ۹۵ فیصده ډاډ ښودل شوی چې توپیر به یې ۱۴۹ او ۲۳۳ ترمنځ اوسي. د ماشومانو د ژغورنې دفتر د ۲۰۰۷ کال د نړۍ د میندو حالت د راپور پر بنسټ افغانستان کې د میندو د مړینې اندازه د ترټولو لوړو کچو څخه یو نسبت لري، چې په هر کال کې ۲۰،۰۰۰ میندې او ۳۷۰،۰۰۰ له پنځو کلونو څخه کوچنې ماشومان مري. د یو افغانې مور لپاره د دغه ارقامو رښتیا دا ده چې هره مور په خپل ژوند کې له پنځو کلونو څخه کوچنې ماشوم له لاسه ورکوي. د دغو معلوماتو تریخوالی په دې کې دی چې زیاتره دغه مړینې په آسانه توګه د مخنیوی وړ دي. په دغه سند کې د حالاتو تحلیل وروسته له دې خپور شو چې؛ پدې هکله میشت معلومات ولوستل شول، او د روغتیا وزارت او د ماشومانو د ژغورنې

د دفتر له کارکوونکو سره، او همدارنګه د نورو ناحکومتي سازمانونو او بسپنه ورکوونکو له کارکوونکو سره چې د روغتیا په سکتور کې کار کوی پراخې مرکې تر سره شوی.

## قانون، عدالت او قانوني سیستم




**"Arbitrary Justice: Trials of Bagram and Guantanamo Detainees in Afghanistan." New York: Human Rights First, 2008. 36 p. Executive summary also published in Dari (4 p.) and Pushto (5 p.). http://www.humanrightsfirst.org/media/usls/2008/alert/278/index.htm (PDF, 734 KB).**

په دغه راپور کې ۲۵۰ څخه زیات افغان بندیان چې مخکې له دی د متحده ایالاتو لخوا په ګوانتانامو او بګرام کې وو د افغانستان دولت ته د پلټنې لپاره د هغوی د انتقال پروسه ارزول شوی ده. دغه بندیان له کابل څخه بهر د ځرخي پله زندان په دال بلاک کې، چې د امریکې د متحده ایالاتو د حکومت لخوا جوړ شوی دی د پلټنې لپاره ساتل شوي دي. د پلټنو د څار او له قاضیانو، څارنوالانو، مدافع وکیلانو، د دال بلاک پخوانی مدافعینو، او په

## نوي قوانین چې په ۱۳۸۲م کال کې خپاره شوي

| د رسمي مجلې ګڼه | |
|---|---|
| ۹۲۳ | دافغانستان داسلامی جمهوریت درئیس فرمانونه، دمحبسونو اوتوقیف ځآیونو قانون. |
| ۹۲۷ | دځمکنیو نقلیه وسایطو دګرځیدود جواز (جواز سیر) مقرره. |
| ۹۲۹ | په بهر کی دبورسونو اوزده کړو (تحصیلاتو) مقرره. |
| ۹۳۰ | دتجارتی علایمو او سندونو دثبت اعلانونه |
| ۹۳۴ | دمدافع وکیلانو قانون |
| ۹۳۵ | دمحبسونو او توقیف ځایونو د چارو دتنظیم مقرره. |

۹۲۵، ۹۲۸، دتجارتی علایمو او سندونو دثبت اعلانونه
۹۳۰، ۹۳۳،
۹۳۷، ۹۳۸،




## د افغانستان قومي نخښه

د نوال (سمندري) د لسان څخه د پورته درجې زده کړې د ښوونځي د جګړې او کلتوري مطالعو لپاره د پروګرام ویب پاڼه چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د متحده ایالاتو د سرچینو سره سم حاکمې قومي او قبیلوي نخښې ښيي، لستوي. هغه قبیلې چې پدغو نخښنو کې وړاندی شوي، یوازې هغه قبیلې په برکې نلري چې په خپلو مشخصو سیمو کې دي؛ دوی په هرصورت د حاکمو قبیلو په څیر انګیرل کیږي. دغه نخښې باید د یو لارښود په څیر چې راتلونکو څیړنو سره مرسته کوي، په پام کې ونیول شي، او د ذکر شویو معینو خصوصیاتو او مشخصاتو توضیح استدلال کیدای شي.

دغه نخښې د لاندنۍ ویب پاڼې پرمخ د پي دي اف په بڼه د لاسرسنې وړ : http://www.nps.edu/Programs/CCS/Tribal_maps.html.

کابل کې د بندیانو له کورنیو سره د اول لاس مرکو پر بنسټ، دغه راپور څرګندوی چې څه ډول د امریکې متحده ایالاتو لخوا د ادعاوو پر بنیاد بندیان د افغانستان د حکومت لخوا مجازات او محاکمه کیږي.

**"International Instruments for the Protection of Women's Human Rights." Kabul: UNIFEM Afghanistan, 2007 [?]. 37 p. http://afghanistan.unifem.org/prog/GJ/publications.html#toolkit1 (PDF, 2MB).**

**U.S. Congress. House of Representatives. Subcommittee on National Security and Foreign Affairs."Oversight of U.S. Efforts to Train and Equip Police and Enhance the Justice Sector in Afghanistan" Washington: [n.p.], 2008.**

په دغه سند کې د قانون د حاکمیت د پروژو په اړوند د افرادو شهادت شامل دی، خصوصاً د افغانو پولیسو، او په کاری فعالیتونو کې د بدلونونو لپاره وړاندیزونه هم پکې شامل دی.

## کډوالي

**Monsutti, Alessandro. "Afghan Migratory Strategies and the Three Solutions to the Refugee Problem." *Refugee Studies Quarterly* 27 (2008): 58-73. http://rsq.oxfordjournals.org/cgi/reprint/27/1/58 (PDF).**

دغه مقاله دری اصلی ادعاوی وړاندی کوی: په افغانستان او د

افغانستان په شاه و خوا کې د فرا ملي شبکو له مخکې شتون او له دغو فرا ملي شبکو سره د پرمختګونو تنظیم؛ د افغانستان د خلکو ارتجاع او ابتکار، خصوصاً د حوالې سیستم؛ او د هیواد د بیارغونې او د سیمې د ثبات لپاره د مهاجرت اړوند چارو او د فراملي شبکو ترمنځ تناسب د مهاجرت د ستراتیژیو پر خلاف چې د مهاجرینو لخوا رامنځته شوي دي، دری حل لارې چې د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ دفتر یې د مهاجرینو لپاره ترویجوي (خپل هیواد ته داوطلبانه راستنیدل؛ په همغه کوربه هیواد کې چې استوګن دي هغلته ځای پر ځای کیدل؛ او یا په دریم هیواد کې استوګن کیدل) د دې نظر پر بنسټ دي چې هر کله فعالیت (حرکت/پرمختګ) ودریږي نو د حل لارې پیدا کیږي. په داسې حال کې چې خوځښت بنایي د معیشت یوه کلیدي ستراتیژي هم وګڼل شي. دغه مقاله همدارنګه د یو لړ پراخ حل لارې اړتیا څخه ملاتړ کوي چې د ستراتیژیو او ځوابونو بشپړلیست چې د افغانستان د نفوسو لخوا رامنځته شوي په حساب کې نیسي، د افغانستان، پاکستان او ایران تر منځ د خوځښتونو په شمول.

## د طبیعي سرچینو مدیریت

*Afghanistan's Environment 2008 : Executive Summary*. **Kabul [?]: United Nations Environment Programme (UNEP), 2008. 29 p. ISBN: 9788277010489. http://postconflict.unep.ch/publications/afg_soe_E.pdf (8.61 MB).**

دغه خلاصه لوستونکی د چاپیریال له کلیدي مسایلو څخه، په افغانستان کې د چاپیریال د بدلون له عواملو او چلوونکو څخه آګاه کوي. او تیر نږدې بریالیتوبونه او پر وړاندې لیدلوري روښانه کوي. د دغه خلاصې موخه د افغانستان لپاره د یو زیات څو اړخیزه چاپیریال د حالت (SOE) اول لاس ریوټ یو مرور دی، چې ملي چاپیریال د ساتنې د اداري لخوا د افغانستان د ۲۰۰۷ کال د چاپیریال قانون له ۹ (۱۲) برخې سره سم تولیدیږي. دغه پراخ سند به د ۲۰۰۸ کال په منځ کې د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام په مرسته خپور شي. دغه راپور د ملي لوستونکو لپاره طرح شوی دی، ملي لوستونکي لکه؛ حکومتي مقامات، د ټولنو مشران، او د ملي او سیمه ییزه کچې څخه د طبیعي سرچینو پالیسي جوړوونکي، او همدارنګه د پراخه نړیواله ټولنې لپاره لکه؛ بسپنه ورکوونکي او نړیواله موسسې، په ګاونډیو هیوادونو کې پالیسي جوړوونکي، او خلک او انستیتیوتونه چې افغانستان سره مینه لري. دغه خلاصه د موضوع په هکله په کلکه ټولیزه توګه تر ټولو لا ښه معلومات وړاندې کوي او د چاپیریال د حالت په هکله د معلوماتو خلا راپیژني. د لنډیز فصل کې دغه مسایل شامل دي؛ د دغه موضوع د شرایط ټولیزه مرور؛ د طبیعي سرچینو اهمیت او کاراخیستل؛ د سرچینو د حالت په هکله او سمهاله پوهه؛ او سیمه ییزه او نړیواله عواملو ته اړیکي او لارې. همدارنګه دغه ریوټ څرګندوي چې که چیرې د افغانستان طبیعي سرچینې، په سمه او ټینګه توګه اداره شي، څه ډول کیدای شي د راتلونکي اقتصادي ودې او ثبات لپاره اساسات برابر کړي.

**"Progress Report: Capacity Building and Institutional Development Programme for Environmental Management in Afghanistan (January-December 2007)." UNEP Post-Conflict and Disaster Management Branch. Kabul: UNEP, 2008. 45 p. http://postconflict.unep.ch/publications.php?prog=afghanistan.**

دافغانستان د اوبو لګولو او د اوبو د منابعو او چاپیریال پخوانی وزارت وړاندیز کړی وو چې (د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام د ظرفیتونو د لوړوالي او د افغانستان لپاره د نهادي پرمختګ پروګرام) دی د (له جنګ څخه وروسته د افغانستان د چاپیریال ارزونه" په نامه د ملګرو ملتونو د چاپیریال پروګرام راپور چې د ۲۰۰۳ کال د جنوری په میاشت کې خپور شوی) د یو متعاقب کلیدي فعالیت په توګه وی. نوموړی د ظرفیتونو د لوړوالي او دافغانستان لپاره د نهادي پرمختګ پروګرام په دوو مرحلو کې د ۲۰۰۳ کال له اکتوبر څخه د دیسمبر تر ۲۰۰۷ پورې پلی شو. د دغه پروګرام دریمه ۳۲ میاشتنۍ مرحله د ۲۰۰۸ کال د اپریل په میاشت کې پیل شوه. دغه راپور د ۲۰۰۴، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کلونو پراخو راپورونو په بهیر پسې راځي. د پروژې په اصلي اسنادو کې د پروګرام د نه (۹) برخو د لیسټ پر بنسټ، دغه راپور د ۲۰۰۷ کال له جنوری څخه تر دیسمبر پورې د پروګرام د پرمختګ بهیر څرګندوي. د ۲۰۰۷ کال په دوران کې چې څرګنده فعالیت او پایلې تر لاسه شوي د دغو عنوانونو لاندې خلاصه شوي دي: د چاپیریال انسجام؛ ګړنده سمون او د تشکیلاتو تجدید؛ د چاپیریال قانون؛ د چاپیریال د اثر ارزونه؛ د سیمه ییزه اساساتو پر بنسټ د طبیعي منابعو مدیریت؛ د چاپیریال معلومات او څارنه؛ د چاپیریال زده کړه؛ او د چاپیریال څو اړخیزه تطابق. په دغه پاڼه کې د افغانستان د ملي چاپیریال د ساتنې د اداري ستراتیژي (۱۳ مخه، د ۲۰۰۷ کال د مارچ په میاشت کې خپره شوې) او د ملي چاپیریال ستراتیژي (۴۵ مخه، د ۲۰۰۷ کال په دیسمبر کې خپره شوې) پکې شاملې دي.

## ترياک

*Afghanistan: Opium-poppy-free Road Map and Provincial Profiles*. **United Nations Office on Drugs and Crime. Kabul [?]: UNODC, June 2008. 124 p. http://www.unodc.org/documents/regional/central-asia/Blue_Opium%20Poppy%20Roadmap-Work%20in%20Progress_June08.pdf.**




دغه سند ددې لپاره تیار شوی چې د افغانستان د ټولو ولایتونو لنډ

تحليل هم د نشه يي توکو پر ضد د مبارزی د هڅو او هم د قانون د حاکميت د شاخصونو له لحاظه وړاندی کړی. له دغه کار څخه موخه دا ده چي هغه ولايتونه او اړونده سيمي چي بايد په راتلونکي کلونو کي د يو تدريجي شيوی له لاری په ګوته شی، د هغو د لومړيتوب وړانديز وکړی-لومړی، بايد د دغه شيوي له لاری د انګيزو او د مثبتو انعامونو په واسطه او دوهم د انسجام، همکاريو، او د عملياتو په کچه د هڅو د اغيزمنتيا د زياتولو لپاره د سهامينو په نښه کولو له لاری دغه کار وکړی. نوموړی شيوه بايد په افغانستان کي د پرمختللي حکومتداری، پر سابقه او له ترياکو څخه پاکو ولايتونو شمير زيات کړی. د دغه سند لومړنی ټوک (۷۹ مخه) د ۲۰۰۷ کال په ديسمبر کي خپور شوی ؤ.

**Grare, Frédéric. "Anatomy of a Fallacy : the Senlis Council and Narcotics in Afghanistan" Working paper No. 34, Centre for International Governance Innovation, February 2008. 30 p. http://www.cigionline.org/cigi/download-nocache/Publications/workingp/anatomyofa/workingpap (PDF, 519 KB).**

دغه پاڼه په افغانستان کي د کوکنارو د کر ته د مجوز کولو په هکله د سنلس د وړانديزونو پر وړاندی انتقادی نظر په خپلولو سره داسی استدلال کوی چي د دغو وړانديزونو تر شاه پرنسيبونه (اقتصادی، ټولنيز او سياسی) له هغو پرنسيبونو څخه چي د پخوانيو شيوو ملاتړ کوی يوازی لږ توپير لری او اوسمهالی سياسی شرايطو کي د برياليتوب ډير لږ بالقوه دلايل لری. دغه پاڼه په دی سره خپل استدلال ته پايله رسوی چي د زياتو نيمګړتياوو سربيره، هم دافغانستان د اوسمهاله شرايطو او هم جوړښتيزه ستونځي چي دنشه يي توکو پر وړاندی د نړيواله مبارزي په اساس کي دی په پام کي نيولو سره، اوسمهاله پاليسۍ ښايي خوشبينوونکی وي.

**Goodhand, Jonathan. Corrupting or Consolidating the Peace?: The Drugs Economy and Post-conflict Peacebuilding in Afghanistan." *International Peacekeeping* 15, no.3 (June 2008): 405-423. http://www.informaworld.com/smpp/content~content=a793322435~db=all.**

دغه مقاله د نشه يي توکو/دارو د اقتصاد د راپورته کيدو، ودی او د افغانستان سياسی اقتصاد ته داوښت خپلولو څرنګوالی آزمايي. له جنګ څخه سولي ته د اوښت چي ور پسی د بن تړون وليکل شو، پر دغه اوښت باندی لومړنی تمرکز سره، دغه مقاله د نشه يي توکواو سياسی نظم / بی نظمۍ تر منځ اړيکي سپړی. د قدرت د اړيکو او د نشه يي موادو د جوړولو سازمانونه چي د نشه اي توکو د اقتصاد په چاپيريال کي رامنځته شو د دغه تحليل مرکزي ټکي دي. د يو ماديول پر بنسټ چي د سنايد لخوا په ۲۰۰۴ کال کي رامنځته شو، داسی تصريح شوی چي د نشه يي توکو د جوړولو ګډ رژيمونه چي چلوونکي او خصوصی فعالين پکي بوخت دی ښايي چي سياسی نظم رامنځته کوی، په داسی حال کي چي د نشه يي توکو د جوړولو خصوصی رژيمونه په سيمه کي د تاوتريخوالی او سياسی سقوط سبب ګرځيدلی. دغه ماديول د افغانستان په ځينو برخو کي د سياسی نظم له کچي سره د نشه يي توکو او فساد مرسته او په عين حال کي په نورو سيمو کي د بی نظمي اور ته لمن وحلو د څرنګوالی له بيانولو سره مرسته کوی.

**"Effective Factors Associated with Drug Addiction and the Consequences of Addiction among Afghan Women." Kabul: Afghanistan Independent Human Rights Commission, Research and Planning Section, 2008. 26 p. http://www.aihrc.org.af/2008/Mar/Rep_Afghan_women_Drug_Abuse.pdf (800KB).**

د دغه پروژی لپاره په ۲۱ ولايتونو کي له ۸۲۸ اشخاصو سره د شپږو مياشتو په اوږدو کي مرکي وشوی. له دغو اشخاصو سره د ناټاکو نمونو په توګه د بيلابيلو ځايونو (روغتيايي مرکزونو، د غاليو يا قالينو د اودلو مرکزونو او په ګډوډ ډول ټاکل شويو استوګن سيمو) څخه مرکي وشوی. د معتادو ښځو د ژوند د بيل بيل اړخونو د سپړو لپاره له داسی يوي ميتودالوژی څخه کار واخستل شو چي د څارني او د داسی سروی چي نمونه يي د ټول نفوس څخه استازيتوب کوی، سره يو ځای کوی. د سروی په اوږدو کي يو لړ ستونځي رامخته شوی: ۱) په ځني مواردو کي به ځواب ورکوونکو له مرکه کوونکو څخه د مالي مرستی تمع کوله، که څه هم هغوی ته وييل شوی وو چي د پوښتنليک له ډکلو څخه وروسته به هغوی سره هيڅ ډول مالی مرسته نکيږي، خو که ځواب ورکوونکو د مالي مرستي تمع کوله نو مرکه کوونکو به د مرکي ادامه ورکولو کي د ناراحتي احساس کاوه؛ ۲) په ځينو ټولنو کي د هيواد په ليرو پرتو سيمو کي د انفرادی خلوت خبری د هغوی په ډله ييزه ژوند کي امکان نه لاره، او د مرکه کوونکو لپاره ډيره ستونزمنه خبر وه چي له ځواب ورکوونکو سره په خلوت کي خبری وکړی. ۳) د خبرو اترو له لحاظه، په لری پرتو سيمو کي ځواب ورکوونکو د مرکه کوونکو په اړوند لږه مشکوکتيا ښکاره کوله او د مرستي لپاره خوشحاله وو خو په سيمو کي چي ښارونو ته نږدی پرتی وي او يا پخپله ښارونو کي دغه شانتي نه وو. (۷-۵ مخونه).

## امنيت

**"Afghanistan Arms Proliferation Fuels Further Abuse." Amnesty International Public Briefing, 3 April 2008. 6 p. http://www.humansecuritygateway.info/documents/AI_Afghanistan_armsproliferationfurtherabuse.pdf.**

د عفو نړيوالي اداري دغه راپور ادعا کوی چي د ناتو غړی هيوادونه او (د ائتلافی ځواکونو غړی هيوادونه) د افغانستان محلي امنيتي ځواکونو او پوليسو ته په بی حده اندازه ټوپک، سپکي وسلي او مهمات ور سمبالوی، په داسی شرايطو کي چيری چي داسی خطر موجود دی چي دغه مهمات به د بشر نړيوالو حقونو او بشردوستانه قانون پر وړاندی د جدی تاوتريخوالی لپاره پکار شی. د عفو نړيواله اداره داسی انديښنه څرګندوی چي په جنګ جګړه کي را ګير افغان

ښاروندان لازيات زيانمونکي دی، ځکه چې په جنګ کې بوخت ټول اړخونه (په شمول د افغانستان حکومت، نړيوال پوځې ځواکونه او طالبان) د خپلو نړيوالو قانوني تعهداتو په ساتلو کې ناکام دی. همدارنګه دغه اداره اندېښنه څرګندوی چې د افغانستان د حکومت دوامداره هڅې (د نړيواله ټولنې په ملاتړ) چې غواړي په هيواد کې اغيزمن بشری حقوق پياوړی کړی د وسلو د بی کنتروله خپريدو له کبله په خطر کې دی.

*Afghanistan Security: Further Congressional Action may be Needed to Ensure Completion of a Detailed Plan to Develop and Sustain Capable Afghan National Security Forces.* **Washington, D.C.: United States Government Accountability Office (GAO), June 2008. 71 p. http://www.gao.gov/new.items/d08661.pdf (2.76 MB).**

"که څه هم د راپورونو پر بنسټ د افغانستان د ملي پوليسو شمير له **۲۰۰۵** کال څخه را په دی خوا ، د ۲ زره ميليونه امريکايي ډالرو پانګه اچونې څخه وروسته، زيات شوی دی، خو د پوليسو هيڅ يو واحد بشپړه وړتيا نلری، او د پوليسو د پرمختګ لپاره د امريکې د هيواد هڅې له راز راز ننګونو سره مخ شوي". لومړی، د ټولو پوليسو له څلورمې برخې څخه لږ يې په ساحه کې ميشت مشاورڅارنکي لری تر څو روزنه وړاندی کړی او ډاډه کړی چې پوليس په دندو فعال دی. دوهم، لا اوس هم پوليسې څانګې د تجهيزاتو له کمۍ سره مخ دی (نقليه وسيلې، مخابرې، او زره). علاوه پر دی، د افغانستان ضعيفه قضايې سيستم د اغيزمنه پوليسی چارو او د قانون حاکميت څخه مخنيوی کوی، او د افغانستان ملی پوليس په بيا بيا توګه له تنخاوو ستونځو، فساد او د ياغيانو د حملاتو سره مخامخ کيږی." (دوهم مخ)

**Frewen, John. "Contested Nation-building: The Challenge of Countering Insurgency in Afghanistan in 2007."** *Australian Army Journal* **5, no. 1 (Autumn 2008): 19-37. http://www.afghanconflictmonitor.org/AAJ_5_1.pdf.**

"په افغانستان کې د دغه ليکوال د وخت په پام کې نيولو سره نومړې په دغه هيواد کې له سياليو ډکې د ملت جوړونې ننګونې تشريح کوی. دغه مقاله د ښاروندانو د ظرفيتونو د لوړولو او په عين حال کې د بلواوو پر ضد د مبارزی په کامپاين کې د ګډون سختۍ سپړې. د ليکوال له ټينګار څخه ډک استدلال دا دی چې په افغانستان کې ميشت ائتلافی پوځې ځواکونه بايد د تازه کار ملی حکومت اړتياوو او لاربښوونو مسؤل پاتی شی او په عين حال کې د قانون او نظام لپاره لازمه بيخبنا رامنځته کړی" (اخز).

**Suhrke, Astri. "A Contradictory Mission? NATO from Stabilization to Combat in Afghanistan."** *International Peacekeeping* **15, no. 2 (April 2008): 214-236. http://www.cmi.no/publications/publication/?3038=a-contradictory-mission (PDF, 212 KB).**

"د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۷ کلونو تر منځ د امريکې متحده ايالاتو او ناتو خپلې دندې او مسؤليتونو په تدريجې توګه کمو پوځې فعاليتونو او مداخلاتو ته واړول، په لومړې سر کې دغه کار ځکه وشو چې د شوروی اتحاد ورته سهوی څخه مخنيوی وشی. د امريکې او د ناتو د پوځونو پراخ شتون او فعاليتونو څخه ويره دا ده چې ښايې مليشاوو ته د اسلام او افغانيت په نام د مقاومت د لا چمتو کولو توان ور وبخښی. څنګه چې څرګنده ده مليشاوو په اغيزمنه توګه پراختيا وموندله تر څو د بهرنی پوځ زياتيدونکې شته والی سره مقابله وکړی. د لا زياتو جنګې عساکرو ناتو ته ځينې تکتيکې بری ور په برخه کړی، خو مليشاوو ته د ماتې ورکولو د شيوې محدوديتونه او مخالفې اغيزې ښايې چې په افغانستان کې د ناتو د فعاليت پراخ ثبات کمزوری کړی، چې دغه مساله د ناتو په ماموريت کې بنسټيز مخالفت په ګوته کوی. د ناتو د جنګې رول پياوړی کول ښايې چې دغه مخالفت لا زيات کړی او د يو ستراتيژيکې ناکامۍ اړونده امکانات زيات کړی" (اخز).

**Belasco, Amy.** *The Cost of Iraq, Afghanistan, and Other Global War on Terror Operations Since 9/11*. **Washington, DC: Congressional Research Service, Library of Congress, 2008. 57 p. http://www.fas.org/sgp/crs/natsec/RL33110.pdf (316 KB).**

د ۲۰۰۷ کال د ديسمبر مياشتې په ۲۲مه نيټه د ۲۰۰۸ کال د عمومې اختصاصونو يا بودجې د مقررې تصويب سره سم د امريکې کانګرس په ټوليزه توګه تقريباً ۷۰۰ ميليارډه امريکايې ډالر د پوځې عملياتو، بنسټيزه امنيت، بيا رغونې، بهرنۍ مرستې، د سفارتونو لګښتونو، او د سپتمبر د ۱۱مې حملاتو څخه وروسته د دريو پوځې عملياتو په جنګونو کې د خپلو جنګياليو د روغتنپالنې لپاره تصويب کړې، دغه دری عمليات عبارت دي له: د افغانستان لپاره د آزادۍ عمليات (OEF) او د ترور پر ضد نور عملياتونه؛ نوبل ايګل عمليات (ONE) چې په پوځې قرارګاوو کې امنيتې تدابير ساتې؛ او د عراق د ازادۍ عمليات (OIF). د ۱۳۸۶ کال د مرغومې (د ۲۰۰۸ کال په جنوری) کې د امريکا د دفاع وزارت د قراردادونو او تنخاوو مياشتنۍ تاديه په منځنې کچه ۱۲.۲ ميليارده امريکايې ډالره شوه، په شمول د ۹.۸ ميليارد امريکايې ډالره د عراق او ۲.۴ ميليارده د افغانستان لپاره.

**Senate of Canada. "How are We Doing in Afghanistan? Canadians Need to Know."** *Report of the Standing Senate Committee on National Security and Defence*., **second session, Thirty-ninth Parliament, 9 June 2008. 107 p. http://www.parl.gc.ca/39/2/parlbus/commbus/senate/com-e/defe-e/rep-e/rep09jun08-e.htm (PDF, 598 KB).**

"په داسی حال کې چې په افغانستان کې د بری پر وړاندی ننګونې ويروونکې دی، خو په هغه ډول چې دغه دنده تر سره کيږې مونږ د پام وړ پرمختګ موندلی دی. خو د دغو پرمختګونو د کچ کولو او د کاناډا خلکو ته د دغو پرمختګونو د اطلاع رسولو په لارو کې مو ښه والی ونه موند. د سناتورانو د کوميټې يو لومړنۍ پايله دا ده چې د کاناډا هيواد بايد د کاناډا خلکو ته د پرمختګ (او يا د پرمختګ د کمی) د خبر

ورکولو لپاره لا نبې لاری وموندي، ترڅو د کاناډا خلک وشي کولای په دې هکله چې آیا دغه ماموریت هم د مرګ ژوبلې او هم د پیسو د لګښتونو له اړخه، په دغو ګرانو قیمتونو ارزښت لري که نه، په دې هکله آګاهانه پریکړه وکړي. د کانګرس کمیټه لا باور لري چې د دغه هیواد ماموریت د ارزښت وړ دی. آیا دغه ارزښت به دوام ولري که نه په دې پورې اړه لري چې ترڅه حده به موږ د افغانانو سوکالي او امنیت ښه والی ته دوام ورکړو (د عنوان مخ)."

**French, Nils N. "Learning from the Seven Soviet Wars: Lessons for Canada in Afghanistan."** *Canadian Army Journal* **10, no. 4 (Winter 2008): 36-47. http://www.army.forces.gc.ca/caj/documents/vol_10/iss_4/CAJ_vol10.4_06_e.pdf (100 KB).**
په افغانستان کې د شوروي او د اوسنیو پوځي تکتکونو لنډه مقایسوي مطالعه.

**Thruelsen, Peter Dahl.** *NATO in Afghanistan: What Lessons Are We Learning and Are We Willing to Adjust?* **Copenhagen: Danish Institute for International Studies (DIIS), 2007. 52 p. ISBN: 9788776052348. http://www.diis.dk/sw45914.asp (PDF, 480 KB).**
دغه رپوټ په افغانستان کې د ناتو په مشرتابه د نړیوال سوله ساتي ځواکو(ایساف) د هیات یا اصلي موخې پیچلتیا سپړي. نوموړی رپوټ د عملیاتو بیلابیل اړخونه تحلیلوي او بالاخره مهم او ارزښتمن وړاندیزونه چې د لا ډیرو موثرو عملیاتو د په لاره اچولو او همدارنګه د بریالیتوب د ترلاسه کولو په صورت کې چې باید په نظر کې ونیول شي. لستوي. دغه مطالعه هغه مهم درسونه او عبرت ازمایي چې د ساحوي مطالعو په اساس چې د فرمان په کچو او اندازو تمرکز کوي، کیدای شي د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د اوسني هیات څخه رابرڅیره یا سرچینه واخلي. په بشپړ ډول دغه موندنې توصیه کوي چې د نړیوال سوله ساتو ځواکونو هیات د هیات د ترلي سیاسي او ستراتیژیکي پوهی، دندې او ستراتیژۍ د کمښت سره مخ دي.

**House of Commons Defence Committee. "Operational costs in Afghanistan and Iraq: Spring Supplementary Estimate 2007-08."** *Eighth Report of Session 2007-08.* **London: The Stationery Office, 2008. http://www.publications.parliament.uk/pa/cm200708/cmselect/cmdfence/400/400.pdf (271 KB**
د پسرلي بشپړیدونکي وړاند وینه، چې د دفاع د وزارت لخوا وړاندې شوه، د اضافي ۲۱۹۲ میلیون پونډو غوښتنه کوله. ددغه پیسو د جملې څخه، ۱۴۱۰.۵ میلیون پونډه په پام کې نیول شوي وو څو د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ زیږدیز مالي کلونو په بهیر کې په اعراق او افغانستان کې د اټکل شویو عملیاتو اضافي لګښت برابر کړي.

**Yusufzai, Rahimullah. "Pakistan's Taliban: Negotiating Peace, Preparing for War."** *Terrorism Focus* **15, no. 18 (May 6, 2008): 6-7. http://www.jamestown.org/terrorism/news/article.php?articleid=2374153 (HTML, accessed 31 July 2008).**
د حکومت او د طالبانو د تحریک پاکستان (**TTP**) چې د پاکستان د طالبانو ډلو یوچترې ډولې سازمان (داسې یو سازمان چې د خپل چتر لاندې نور واړه سازمانونه یا ډلې سره راغونډوي، هغه تنظیموي، او څارې یې څو په ډاګه کړي چې د هغوی فعالیتونه د پلان سره سم روان دي) ترمنځ سوله ایزې پټې او سرې خبرې اترې د ۲۰۰۸ زیږدیز کال د اپریل د میاشت په ورستیو کې نسکورې شوې، خو یو اړخیز اوربند چې پدغه وروستیو کې روښانه شو، اوس هم په خپل ځای پاتې دی. د اوربند د جاري ساتلو سره د منښت او ترون پوسیله د طالبانو د تحریک پاکستان سازمان خپل لیوالتیا ته اشاره وکړه څو د سولې مذاکراتو ته بیا قوت ور په برخه کړي، پدې شرط چې د نوموړي سازمان ځینې غوښتنې پوره کړای شي.

**Mihalka, Michael. "Pashtunistan, NATO and the Global War on Terror : "If you don't fight, you cannot have peace in Afghanistan."" China and Eurasia Forum Quarterly 6, no. 1 (2008): 51-78. http://www.silkroadstudies.org/new/inside/publications/CEF_quarterly.htm (PDF, 169 KB).**
" د سپتمبر د یولسمې نیټې څخه راپدیخوا بلوا یا تروریزم زیات شوی او د روان بغاوت د څرګندی او ښکاره څیرې بنه یې خپله کړې ناتو په افغانستان کې پداسې یو بلوا کې ترپخوا ډیر ښکیل شوی که څه هم چې په افغانستان کې د ناتو د ناکامیدو درک او پوهی د ناتو د ماموریت او اصلي موخې په وړاندې د خلکو ملاتړ کم کړې دی.

*Progress in Afghanistan : Bucharest Summit 2-4 April 2008* **/ Brussels, Belgium : NATO, 2008. 20 p. http://www.nato.int/isaf/docu/epub/pdf/progress_afghanistan.pdf (3.2 MB).**
دغه سند په افغانستان کې چیرته چې پرمختګ رامنځته کیږي یو فوری عکس په ګوته کوي د جلسه د رپوټ پراخه پایله دا ده چې "نړیواله هڅه او کوښښ څو افغانستان سره مرسته وکړي چې ډیر با ثباته او خوندي راتلونکې ولري، د کامیدو وړ دی او ترلاسه کیږي هم" (وړاندوینه).

**Jones, Seth G. "The Rise of Afghanistan's Insurgency: State Failure and Jihad." International Security 32, no. 4 (Spring 2008): 7-40. http://www.mitpressjournals.org/doi/pdf/10.1162/isec.2008.32.4.7 (PDF, 520 KB).**
"دغه مقاله استدلال کوي چې د افغانستان د طرح ګری د پیل لپاره یو مخکیني شرط، جوړښتي بنه درلودله: د طالبانو د رژیم د نسکوریدو څخه وروسته د حکومتداری پرځیدل. ضعیفه حکومتداري د طرح ګریو یو عام لومړنی شرط دی. افغان حکومت پدې قادر نه ؤ چې خلکو ته لومړني خدمتونه چمتو کړي؛ او همدارنګه امنیتي ځواک یې هم ډیر کمزوری ؤ څو قانون او مقررات رامنځته کړي؛ او پدې ترڅکې ډیر لږ نړیوال ځواک شتون درلود ترڅو دغه خلاوی ډکې کړي "(اتم مخ).

**Afsar, Shahid, Chris Samples and Thomas Wood. "The Tali-**

ban: An Organisational Analysis." *Military Review* **(May/June 2008): 58-72.** http://www.humansecuritygateway.info/documents/MILREVIEW_Taliban_Organisational_Analysis.pdf **(1.95 MB).**

دغه مقاله د طالبانو د حکومت یو شالید او توضیح په برکې لري، چې یو سازماني طرحه یا انځور او اړوند رپوټ ورکوونکې شامله ده

**Helmer, Daniel. "Twelve Urgent Steps of the Advisor Mission in Afghanistan."** *Military Review* **(July/August 2008): 73-81.** http://usacac.army.mil/CAC/milreview/English/JulAug08/HelmerEngJulAug08.pdf **(879 KB).**

دغه مقاله چې په افغانستان کې د یو پخواني پالندویه (د پولیسو مربی) لخوا لیکل شوې، د طرحګرۍ په وړاندې مبارزې د زده کړې د ښه والي او پیاوړتیا په اړه یو لړ وړاندیزونه وړاندې کوي. "په افغانستان کې د طرحګرۍ په وړاندې مبارزه او ثبات لور ته تګلار اوس هم د قابو کېدو او کامیابېدو وړ ده، خو که دغه مبارزه او د ټیکاو هڅې په څورنده لور رواني اوسي او که چېرې موږ خپل عملیاتو ته په همدې شکل ادامه ورکړو، نو بنايي زمونږ هڅې او کړنلار د بې سوده او د بې درمانه درد ښېره خپله کړي" (اتلسم مخ).

**Maloney, Sean M. "A Violent Impediment: The Evolution of Insurgent Operations in Kandahar Province, 2003-07."** *Small Wars & Insurgencies* **19, no. 2 (June 2008): 201-20.** http://www.informaworld.com/smpp/content~content=a793324547~db=all~order=page.

دغه سند بحث کوي چې په افغانستان کې د طالبانو عملیاتو په هکله تصور او د نظریو وړاندې کول خپل حدود لري، او دا امکان لري چې د کابل مرکزي ستراتیژي په هیواد کې د هر زون بې ساري او بګړ شرایط په بسیا کوونکې توګه نه په ګوته کوي دغه مقاله وړاندې پوښتنې پوښتي: طالبان څنګه کټ مټ د کندهار په ولایت کې د خپلو موخو د حاصلولو په لور بوخت وو، او څنګه د ۲۰۰۲ کال راپدېخوا د طالبانو دغه تګلارو په تدریجي ډول تکامل کړې؟ څنګه طالبانو د ائتلافي ځواکونو د کوښښونو او عملیاتو سره چې د طرحګرۍ په وړاندې مبارزه ده څو طرح ګر او طرحګرې تر پخو لاندې کړې، ځان چمتو او د بیلابیلو عملیاتو سره په ورته ښېر ځان برابر کړ؟ مقاله زیاتوي چې دغه پوښتنو ته ځوابونه د افغانستان لپاره د طرحګرۍ په وړاندې د هر راز تګلار ترکیب خطرناک، انتقادي او په هرصورت د ډاډ وړ ندې

## اوبه

**Dwerryhouse, Susan. "NGO Voices on Water." ACBAR Advocacy Series. Kabul: Agency Coordinating Body for Afghan Relief (ACBAR), April 2008. 9 p. Also published in Pashto:** دناحکومتي مؤسسو غږ د اوبو په هکله **Also published in Dari:** صدای مؤسسات غیر دولتی در رابطه به آب http://www.acbar.org/ACBAR%20Publications/NGO%20Voices%20on%20Water%20(20%20Apr%2008).pdf **(286 KB).**

د هغه لومړیتوبونو په اساس چې د افغانستان د فقر ازمایښتي اشتراکي اټکل (APPPA) لخوا په ګوته شوي، یعنې په نښه شوي ټولنو، یو شمېر ملي او نړیوالو ناحکومتي موسسو ته چې د اوبو په سکتور کې کار کوي، په مرکو او پرلپسې د ګردي مېزونو په بحثونو کې د ګډون لپاره مراجعه شوی دغه پاڼه یا غوره سند د هغه پروسو او پړاوونو پایله ده

## ښځې

**"Gender Budgeting in Afghanistan." Kabul: UNIFEM Afghanistan, 2008. 26 p.** http://afghanistan.unifem.org/prog/GJ/pub/.

"د جندر لپاره د بودجې تخصیص پدې لټه دی څو د حکومت بودجه بندي په نارینه او ښځینه طبقو باندې د هغې د اغیزې له نظره تجزیه یا تحلیل کړي د جندر لپاره د بودجې په تخصیص کې ستونزه او ننګونه د جندر د کیفیت او د ښځو په وړاندې په بودجوي تخصیصونو او پایلو کې د تبعیض د لمنځه وړلو په اړه د پالیسۍ د ژمنو په ژباړه کې را منځته کېږي" (لومړی مخ).

**Nijhowne, Diya and Lauryn Oates.** *Living with Violence: A National Report on Domestic Abuse in Afghanistan*. **Kabul: Global Rights, Partners for Justice, March 2008. 60 p. ISBN: 0977609898.**




ددغه رپوټ لپاره، په ۱۲ ولایتونو کې په ۴۷۰۰ کورنیو کې د ښځو څخه سروې وشوه څو په ټول افغانستان کې د افغانستان د ښځینه استازو د توکمي او جغرافیايي نمونو د توپیر پر بنسټ د کورني تاوتریخوالي په اړه لومړني رپوټ منځته راشي همدا رنګه دا لومړنۍ سروې ده چې د فرعي سرچینو لکه د پولیسو په حوزو یا روغتونونو کې د تاوتریخوالي په اړه د ورکړل شویو رپوټونو د ریکارډ یا ثبت باندې د اتکا په نسبت د کورنۍ په کچه د ښځو د سروې ګانو لمخې د احصاییې لومړني معلومات یو ځای کوي او نتیجه تر لاسه کېږي ددغه څېړنې په لاره اچونه کې، د افغاني مېرمنو د څلورو موسسو سره د بشري حقونو نړیوال سازمان برخه اخستې.

## دهیواد د وګړو اټکل: د ښارونو، کلیوالي، اداري واحدونو او جنس په توپیر = Estimated population of Afghanistan 2008-2009

کابل: دمرکزي احصایې اداره. ت. ؛ ۳۰ x ۲۲ س م. د احصاییې مرکزي اداره وياړي چې د ۱۳۸۷ (۲۰۰۸-۲۰۰۹) کال دهیواد دوګړو د اټکل ټولګه (نشریه) په پښتو او انګلیسی ژبو خپروي. هیله کېږي چې دوګړو اټکل شوی ټولګه د پلان جوړونکو، څېړونکو، او د نورو اړتیاوې پوره کړي.

دوګړو داټکل ټولګه چی د ۱۳۸۷ (۲۰۰۸-۲۰۰۹ زیږدیز) کلونو سره مطابقت لري، د ۱۳۵۸(۱۹۷۹)کال دځایي وګړو دلمړني بشپړې سرشمیرنې چی د ۱۳۸۱-۱۳۸۴(۲۰۰۲-۲۰۰۵) کال دکورنیو دلمړني فهرست درقمونو پر بنسټ جوړه شوی ده. ددوه لسیزو د جګړو او د هغوی له امله د رامنځته شویو ستونزو له کبله تراوسه پوری دوګړو دوهمه سر شمیرنه تر سره شوی نده. دغه ټولګه چی دډیموګرافي (جمعیت پیژندنه) د علمي تخنیکونو دبنسټ په پام کی نیولو سره دبیړنیو ستونزو دله منځه وړلو لپاره دښاري، کلیوالي، داداري واحدونواو جنس په توپیر جوړه شویده چې ۳۴ ولایتونه (۳۶۴ ولسوالۍ او د ۳۴ ولایتونو مرکزونه) پکې شامل دي. دیادونې وړ ده چې د هیواد په ټولو ۳۹۸ اداري واحدونو کې ۶۲ ښارونه هم شامل دي. دهیواد د ټولو وګړو شمیر په ۱۳۸۷ کی ۲۵ میلیونه کسان اټکل شوي دي چې لدی جملې څخه ۸.۱۲ میلیونه تنه نارینه او ۲.۱۲ میلیونه ښځینه وګړی دي.

دیادونې وړ ده چې په ۱۳۸۷ کال کې د هیواد د میشتو وګړو اټکل ۵.۲۳ میلیونه تنوته رسیږي چې د اټکل شویو میشتو وګړو له جملې څخه ۵.۱۱ میلیونه یا (۹.۴۸٪) ښځینه او ۱۲ میلیونه یا (۱.۵۱٪) نارینه وګړي جوړوي. سره لدی په ۱۳۸۷ کال کې د ۵.۲۳ میلیونو میشتو وګړو له جملې څخه ۲.۱۸ میلیونه تنه یا (۴.۷۷٪) کلیوالي او ۵.۳ میلیونه یا (۲.۲۲٪) ښاري وګړي جوړوي.

دکوچي وګړو په اړوند باید وویل شي چي د ۱۳۸۳ (۲۰۰۴ زیږدیز) کال په لمړیو کې دکلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت دسرحدونو چارو وزارت اود احصاییې دمرکزي اداری په مرسته د ملي څو اړخیزو سروی ګانو ترنامه لاندی په هیواد کې ترسره شوی چې ددغی سروی ګانو نتیجی دتحلیل او تجزیې نه وروسته دکلیو بیا رغونې او پراخیتا وزارت له خوا خپری اونشرته وسپارل شوی. ددی سروی ګانو دنتیجو په بنسټ دکوچی و،ګړو شمیر ۱.۵ میلیونو ته رسیږي.

داحصایی مرکزي اداره هیله لري چې دا نشریه د ارقامو د ګټې اخیستونکو ځینی ضروری اړتیا وی پوره کړي. او هیله مندیو چې د وګړو او استوګنې د دوهمې بشپړې سرشمیرنې له اجرا سره به په وخت، دباور وړ، دقیق او جامع رقمونه په لاس راشي. (دخپرونې له سریزې څخه).

## احصایوي غوره شاخصونه / دافغانستان اسلامي جمهوریت، داحصاییې مرکزي اداره.

کابل: داحصاییې مرکزي اداره. --ټ. ؛ ۲۱ س م. دمرکزي احصاییې اداره دخوښۍ په څرګندولو سره د ۱۳۸۷ لمریز کال داحصایوي شاخصونو ټولګه (مجموعه) چی د ډول ډول اقتصادي او ټولنیزو معلوماتو لرونکې ده د ۱۳۸۴ او ۱۳۸۵ کلونو په پرتله احصایوي اړوندو ګڼدیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره چاپ او خپروي. پدی ټولګه کې هغه غوره احصایوي معلومات چی ورته اړتیا لیدل کیږي څرګند شوي دي. دهیواد ټول دقیق رقمونه به په ۱۳۸۷ لمریز کال په کلنۍ کې به خپریدو ته وسپارل شي.

البته دیادونې وړده چی دا خپرونه دلمړي ځل لپاره دمرکزي احصاییې د اداری لخوا خپریږي چی دځو برخو ارقام یې پکې ځای په ځای کړي دي.

که چیری تاسو د کومې سرچینې په اړه چې دلته لست شوي ندي خبرتیا لری،
هیله کوو چې په اړه یې دغه لاندی بریښنا پتې ته خپل بریښنا لیک راواستوئ:
newsletter@areu.org.af

# د هیواد د وګړو نوی شوی اټکل

دغه ارقام د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کلونو لپاره د حکومت د نفوسو د رسمي اټکل او سنی نوښت په ګوته کوي چې د احصاییې د مرکزي دفتر څخه ترلاسه شوي. پدغه جدول کې ارقام د ولایت، جندر او ښاري-کلیوالي استوګنې په ترتیب لست شوي. دغه معلومات په دري او انګریزی ژبه موجود دي.

| ولایتونه | د ښاري او کلیوال نفوس مجموعه | | | ښاري | | | کلیوال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ښځینه | نارینه | نارینه او ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه او ښځینه | ښځینه | نارینه | نارینه او ښځینه |
| مجموعه | 11485.7 | 12025.7 | 23511.4 | 2585.8 | 2744.4 | 5330.2 | 8899.9 | 9281.3 | 18181.2 |
| بدخشان | 414.9 | 431 | 845.9 | 15.6 | 16.4 | 32 | 399.3 | 414.6 | 813.9 |
| بادغیس | 215.8 | 225.6 | 441.4 | 6.2 | 6.5 | 12.7 | 209.6 | 219.1 | 428.7 |
| بغلان | 391.9 | 412.1 | 804 | 77.2 | 80.1 | 157.3 | 314.7 | 332 | 646.7 |
| بلخ | 559.3 | 585.5 | 1144.8 | 195.1 | 205.8 | 400.9 | 364.2 | 379.7 | 743.9 |
| بامیان | 196.3 | 201.7 | 398 | 5.5 | 5.5 | 11 | 190.8 | 196.2 | 387 |
| دایکندی | 199.6 | 210.7 | 410.3 | 1.5 | 1.6 | 3.1 | 198.1 | 209.1 | 407.2 |
| فراه | 222.4 | 234.2 | 456.6 | 15.4 | 16.5 | 31.9 | 207 | 217.7 | 424.7 |
| فاریاب | 433.1 | 451.3 | 884.4 | 51.2 | 52.9 | 104.1 | 381.9 | 398.4 | 780.3 |
| غزنی | 534.3 | 558.3 | 1092.6 | 25.2 | 26.3 | 51.5 | 509.1 | 532 | 1041.1 |
| غور | 300.8 | 314.1 | 614.9 | 3 | 3.1 | 6.1 | 297.8 | 311 | 608.8 |
| هرات | 810.6 | 832.1 | 1642.7 | 218.7 | 225.9 | 444.6 | 591.9 | 606.2 | 1198.1 |
| هلمند | 399.9 | 421.9 | 821.8 | 22.3 | 24.5 | 46.8 | 377.6 | 397.4 | 775 |
| جوزجان | 234.1 | 242.6 | 476.7 | 48.7 | 50.3 | 99 | 185.4 | 192.3 | 377.7 |
| کابل | 1667.9 | 1781.9 | 3449.8 | 1374.8 | 1475.2 | 2850 | 293.1 | 306.7 | 599.8 |
| کندهار | 515.1 | 542.4 | 1057.5 | 170.9 | 181.3 | 352.2 | 344.2 | 361.1 | 705.3 |
| کاپیسا | 194.6 | 198.3 | 392.9 | 0.5 | 0.8 | 1.3 | 194.1 | 197.5 | 391.6 |
| خوست | 249.6 | 262 | 511.6 | 4.8 | 5.2 | 10 | 244.8 | 256.8 | 501.6 |
| کنړ | 195.7 | 205.3 | 401 | 5.7 | 6.2 | 11.9 | 190 | 199.1 | 389.1 |
| کندز | 433.6 | 449.3 | 882.9 | 103.1 | 109 | 212.1 | 330.5 | 340.3 | 670.8 |
| لغمان | 193.5 | 203.3 | 396.8 | 2.1 | 2.3 | 4.4 | 191.4 | 201 | 392.4 |
| لوګر | 171.5 | 177.5 | 349 | 4.2 | 4.3 | 8.5 | 167.3 | 173.2 | 340.5 |
| ننګرهار | 651 | 682.5 | 1333.5 | 90.8 | 96.3 | 187.1 | 560.2 | 586.2 | 1146.4 |
| نیمروز | 68.4 | 71.5 | 139.9 | 11.1 | 11.5 | 22.6 | 57.3 | 60 | 117.3 |
| نورستان | 64.6 | 67.3 | 131.9 | 0 | 0 | 0 | 64.6 | 67.3 | 131.9 |
| پکتیکا | 188.6 | 198.7 | 387.3 | 1.1 | 1.3 | 2.4 | 187.5 | 197.4 | 384.9 |
| پکتیا | 239.9 | 251 | 490.9 | 10.3 | 10.8 | 21.1 | 229.6 | 240.2 | 469.8 |
| پنجشیر | 66.8 | 69.9 | 136.7 | 0 | 0 | 0 | 66.8 | 69.9 | 136.7 |
| پاروان | 291.4 | 298.3 | 589.7 | 25 | 25.6 | 50.6 | 266.4 | 272.7 | 539.1 |
| سمنګان | 168.1 | 176.3 | 344.4 | 12.6 | 12.6 | 25.2 | 155.5 | 163.7 | 319.2 |
| سرپل | 242.5 | 254.4 | 496.9 | 18 | 19.2 | 37.2 | 224.5 | 235.2 | 459.7 |
| تخار | 426.7 | 444.2 | 870.9 | 54.5 | 56.2 | 110.7 | 372.2 | 388 | 760.2 |
| ارزګان | 151.3 | 160.6 | 311.9 | 4.3 | 4.5 | 8.8 | 147 | 156.1 | 303.1 |
| وردک | 260.1 | 271.1 | 531.2 | 1.3 | 1.3 | 2.6 | 258.8 | 269.8 | 528.6 |
| زابل | 131.8 | 138.8 | 270.6 | 5.1 | 5.4 | 10.5 | 126.7 | 133.4 | 260.1 |

ارقام په زریزو      سرچینه: د هیواد د وګړو اټکل ۲۰۰۸-۲۰۰۹، (کابل: د احصاییې مرکزي دفتر، ۲۰۰۸م کال)، ۱-۲ مخونه.

دغه اټکلونه د هغه ارقامو یو نوښت دی چې د افغانستان په ښیرنیزه خبرپاڼه ۱۲/۱۱ (د ۲۰۰۶ کال په اکتوبر/د ۲۰۰۷ کال په جنوری) کې اقتباس شوي.